میاشتینۍ مجله

# پښتو

کلیز نمبر ۱۹۸۸ء

پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي

# فهرست


| شمیر | لیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | اداریه | اداره | ۵ |
| ۲ | حمد | سراج محمد نشتر د طوطالۍ | ۶ |
| ۳ | د قاضی عبدالحلیم اثر په مرګ | عرفان خټک د اکوړې | ۷ |
| ۴ | په پاکستانی ژبو کښې کتابونه | پروفیسر محمد نواز طائر | ۸ |
| ۵ | احتجاج | صادق الله خان برګیډیر (ریټائرډ) | ۱۳ |
| ۶ | د شودوغابښونه | ډاکټر اظهر شهماز | ۱۶ |
| ۷ | د سوات سین ته | عبدالحق نسیم | ۲۳ |
| ۸ | شاعرانه ژبه او الفاظ | طاهر بخاری | ۲۶ |
| ۹ | د "دنیا او جهان غم" | ډاکټر احمد بیتهنی | ۴۱ |
| ۱۰ | د ژوند پیکر | عبدالواحد قلندر | ۴۲ |
| ۱۱ | بنه تضمین د چا دے؟ | احمد شاه کسکر | ۴۷ |
| ۱۲ | حضرت اویس قرنیؓ | مجبور د دومیلوی | ۴۸ |
| ۱۳ | بابا | مرحوم ګل باچا الفت | ۵۲ |
| ۱۴ | طب او طبابت | پیر ګوهر | ۵۳ |
| ۱۵ | لږ وار او که مرګیه | پروفیسر محمد نواز طائر | ۵۷ |
| ۱۶ | د خیبر ادب یوه جائزه | آشیم افریدی | ۶۳ |
| ۱۷ | د لوئے حمزه پښتون غزل | عبدالکریم بریالے | ۷۳ |
| ۱۸ | د ماسټر عبدالکریم افسانے د کردار رنګاری په رڼا کښې | ډاکټر محمد اعظم اعظم | ۷۹ |
| ۱۹ | ملا نعمت الله دخیل کلام په رڼا کښې | عبدالرؤف نوشهروی | ۸۶ |
| ۲۰ | الله بخش یوسفی بابائے صحافت سرحد | سید وقار علی شاه کاکاخیل | ۹۳ |
| ۲۱ | مقصد مرحوم او د هغه غزل | ډاکټر اقبال نسیم خټک | ۱۰۱ |
| ۲۲ | همایون همدرد دخیل شعر په رڼا کښې | محمد زبیر حسرت | ۱۰۷ |

سیّد وقار علی شاه (کاکاخیل)

# اللّٰه بخش یوسفی

## بابائے صحافت سرحد

---

د برصغیر هند و پاک تاریخ د ډیرو پیښو نه ډک دے چه پکښې د تهولو نه اهمه د هندوستان غلامي ده. د فرنګي حکومت د اباسین لوید یزے سیمے ته د نولسمے پیړۍ د وروستي نیمے نه شروع کیږي او د شلمے صدۍ تر نیمائي پورے رسي. دا خو وشاسل کاله دور دا سے وو چه پښتانه پکښې په مخه د فیرنګي استعمار خلاف برسرِ پیکار وو. د هند د آزادۍ په تاریخ کښې پښتانه یو ډیر اوچت مقام لري. غلطه به نه وي که سرے دا اووائي چه دا هم د دے اولس سلسلے قربانۍ وے چه فرنګي ئے په دے مجبور کړو چه په کال ۱۹۴۷ کښې هند ته آزادي ورکړي.

د آزادۍ په دے تاریخ کښې ډیرو ګړو راځي. په حیثیت دیوه تحریک د خدائي خدمتګارانو قربانۍ د ټهولو نه زیاتے دي ولے د دوئ نه علاوه نور هم ډیر داسے کسان وو چه وختونه ئے هیروله نشي. په دے کسانو کښې یو اللّٰه بخش یوسفی. بابائے صحافت سرحد هم شامل دے. د یوسفي صاحب نوم خو به ډیرو خلقو اوریدلے وي ولے ډیر لږ خلق به ئے د هغه جذباتو نه خبر وي چه هغه د تحریر، تقریر او عمل په ذریعه کړي دي. په دے مضمون کښې به د هغه د ژوند دوه اړخه یعنې په سیاسي او صحافتي ژوند باندے رڼا اچول کیږي.

25 DEC 1900

اللّٰه بخش یوسفی په ۲۵، دسمبر کال ۱۹۰۰ء د پیښور په کریم پوره نومے محلت کښې دیوه تاجر محمد شریف کره او زیږیدو. ابتدائي تعلیم ئے په ګورنمنټ هائي سکول پیښور کښې حاصل کړو او بیا د صحافت په میدان کښې دا علي تعلیم دپاره انګلستان ته ورستولے شو. هلته هغه د خپل مضمون سره مینه او شوق لرلو. او هغه ورو بے پښتون ووچه د "بک کیپنګ ایسوسي ایشن" ممبر شو.

دا وخت وو چه په دُنیا کښې دوروبئ جهاني

جګړې آثار شروع شول. الله بخش یوسفي چه وا پس د انګلستان نه راغلو نو په ملیشو کښې بهرتي شو. ولې ډیر زر هغه دیا بند وولاسه مجبور شو چه نوکري پرېږدي. ورومبۍ جنګ چه ختم شو انګریزانو په هندوستان باندې ظلم زور شروع کړو. په پښتو نخواه کښې یو مجاهد ګیاوو اول نه ئې د انګریز مخالفت شروع کړې وو. دا بوئ مجاهد حاجي صاحب د ترنګزو وو. د حاجي صاحب خپل نوم عبدالواحد وو د ترنګزو اوسېدونکے وو او د هغهٔ مریدانو ډیر عقیدت په بنا د هغه نوم اخستل نهٔ غوښتل ځکه ئې د ترنګزو حاجي صاحب په نوم شهرت اوموند و. د حاجي صیب په وینا ډیرو زلمو د هغه اتباع اوکړه او د فرنګي استعمار خلاف ئې پټ او ښکاره کاروونه شروع کړل چه په کښې یو الله بخش یوسفي هم وو. څهٔ موده تېره نهٔ وه چه یوسفي صاحب په ښکاره د ول د سیاست میدان ته را اوداڼګل.

د جنګ نه پس د هندوستان په خلقو کښې سیاسي شعور زیاتیدو او س خلق په دې پوئ وو چه فرنګي زمونږ د شمن دے او په دې خاوره باندې قبضه هغه د دے ځلے د لوټلو د پاره کړې ده. فرنګي استعمار ګیادے لکه د ژورے د هندوستان وینې څښي. نو هغوئ د فرنګي خلاف پټ او ښکاره د خپل نفرت اظهار شروع کړو. هغوئ ته چه به کله هم موقع په لاس راتله نو پوره کوشش به ئې کولو چه فرنګي ته ځاني او مالي نقصان اورسي. په ټول ملک کښې مظاهرے هم اوشوے. انګریز سرکار چه اولیدل چه اوس د بر صغیر خلق نور نشي دو که کیدے ځکه چه اوس هغوئ را ویښ شوي دي نو یو تور قانون ئې پاس کړو. چه نوم ئې ورته "رولټ ایکټ" کیښود. د دے قانون لاندې هر هغه فرد چه د انګریز سرکار مخالفت به ئې کوؤ بے تپوسه بندیوان کیدے شو یا به پهانسي هم ورکولے کیدے شوه. په ټول وطن کښې د دے خلاف مظاهرے اوشوے. د مظاهرو زیات زور په پنجاب کښې وو. صوبه سرحد خو ئے هم "سرزمین بے آئین" وو نو په هغې کښې خو چه د چیف کمشنر څهٔ خوښه وه هم هغه به ئې کول بغیر د چا د ویرے. په ۱۳ اپریل کال ۱۹۱۹ء د امرتسر په جلیانواله باغ کښې یو ظالم انګریز جنرل ډائر په مظلومو خلقو ګولئ اوورولے. په سوؤنو خلق مړهٔ او ژوبل شو او په پنجاب کښې مارشل لاء اولګیده. پښتونخواه به څنګه ورو ستو پاتے کیده. د نور هندوستان سره په دے خفګان او غصه کښې د برابر شریک کیدو د پاره په ټوله صوبه کښې غونډے اوشوے چه مرکز ئې پیښور وو.

په دے وخت کښې څنې نور داسے کسان هم مخامخ راغئ چه د آزادۍ په جنګ کښې ئې بے شماره قربانئ کړي دي. په هغوئ کښې خان عبدالغفار خان، قاضي عبدالولي، حکیم عبدالجلیل، حکیم محمد اسلم

پښتو

سنجری، حکیم محمود سنجری. سردار ملاپ سنگھ، عمر بخش، آیارام، ډاکټر چارو چندر گوش، شورام، لالی رام او نور ډیر کسان شامل دی.

په دغه دویمه درېمه ورځ به جلسې کیدې. جلوسونه به ویستې شو او د آزادۍ جذبه راویښولو دپاره به نظمونه هم ویلې کیدل. د یو شیرته (پیښور) جلسه کښې یو زلمي شاعر دا سې وائی. م

ــ ښکیاله پاسه دننګ مقام دے
یوروپ د لاسه هندوستان تنګ دے

په دے جلسو جلوسونو کښې الله بخش یوسفی خان ته ډیر اهمیت پیدا کړو او دغه نه پس په تحریک عدم تعاون او تحریک خلافت کښې دهغهٔ نوم د هر چا ته یاد دے وو. د هجرت تحریک کښې خو دهغهٔ قربانۍ د ومره زیاتې شوې چه په یو وخت هغه د شبقدر هجرت کمیټۍ سیکتر او ټاکلې شو.

په کال ۱۹۲۲ء کښې د انګلستان ولی عهد پرنس آف ویلز رچه وروستو د جارج ششم په نوم د انګلستان باچا شو) د طرف نه د هندوستان د دورے اعلان اوشو. تمام پرستو دهغهٔ د دورې د بائیکاټ اعلان اوکړو ــ په دے وخت کښې ټول مشران بندیوان وو. د دے اعلان نه پس پولیس د خلافت کمیټۍ په دفتر باندے چاپه اوغورزوله او ټول نوموړی کارکنان ئے گرفتار کړل.

پاتے خلقو به یوه پټه غونډه کښې الله بخش یوسفی صدر کړو او تاج محمد شاد او محمد عثمان ئے ورسره مرستیال کړل. خلافت کمیټۍ په څرګنده او په پټه دواړه طریقو د بائیکاټ کامیابیدو دپاره کوششونه شروع کړل. حکومت خپل ټول زور اولګولو چه بائیکاټ اونشی. د پیښور په خلافت کمیټۍ باندے پابندی اولګوله ــ ے حکومت دکاندارانو په دے مجبوره کړل چه په ۶ مارچ کال ۱۹۲۲ء د شاهزاده د راتګ په ورځ بائیکاټ اونه کړی ۸ صاحبزاده عبدالقیوم خان دهغه وخت چیف کمشنر ته مشوره ورکړه چه استقبالیه دربار د صدر په علاقه کښې جوړته اوشی. ولے د یو څو کسانو په وینا باندے چیف کمشنر چوک یادګار خوښ کړو. د ټولے صوبے نه نوابان، خان بهادران، والیان ریاست او خانان د شاهزاده د استقبال دپاره پیښور ته راغلی شو ۹ ــ ۶ مارچ کال ۱۹۲۲ء د پیښور په تاریخ کښې یوه اهمه ورځ وه. ټول ښار دکه د ناوے جوړ کړے شوے وو. خصوصاً په چوک یادګار ډیره خواری شوی وه. په ټول ښار کښې پولیس او فوج ګشت کولو. شاهزاده د ورځے یوولس بجے (11.00 am) چوک یادګار ته را اورسیدو. د فوجی بینډ نه پس رائے بهادر میرچند کهنه ایله خپل تقریر شروع کړے وو. چه ناڅاپه یوه خلافتی آغا بزرګ شاه د خلقو منځ نه د وطن دوستۍ چغه پورته کړه. د آواز اوریدو سره خلقو د هغهٔ جواب په ډیر چغو نعرو ورکړو. د دے کوټ نه د تحریک د شرانو د زنده باد چغے شروع شوے. د حکومت

1922

پښتو
وکړو خپله پوره خواری اوکړه چه خلق کښېنوی او ناکامه شول. خلق د سټیج په لوری روان شو او ډیر په ګراوټ د خلقو منځ نه شاهزاده چهاونړی ته راورسېدو. په دې مظاهره کولو ډیر خلاف قانونیان اونیولے شو چه په کښې مصطفیٰ غالب، بشیر صدیقی، غلام حسین، غلام محمد، آغا بزرګ شاه، عبدالعزیز خوش باش، فضل رحیم، آغه لعل بادشاه، سیټھ عمر بخش، محمد عثمان او الله بخش یوسفی شامل وو. الله بخش یوسفی او د هغه ملګرو ته د دوه دوه کالو قید سزا ورکړے شوه.

یوسفی صیب دوه کاله پس په کال ۱۹۲۴ء کښې د زندان نه خلاص شو. ولے د خلاصیدو سره سمے بیا قامی کارونو ته لاس واچولو. د رغه ورځو دا سے یوه اهمه پیښه به نۀ وی چه په هغې کښې به یوسفی صیب شرکت نۀ وی کړے.

په کال ۱۹۲۸ء کښې د "سائمن کمیشن" د هندوستان د راتګ په موقعه ټولو سیاسی جماعتونو د دے بائیکاټ اوکړو. او چرته چه به سرجان سائمن او د هغه ملګری تلو هلته به ئے دا چغے وهلے چه

"سائمن ګو بیک"

کمیشن د ټول هندوستان دوره اوکړه. په نومبر کال ۱۹۲۸ء کښې کمیشن د پېښور په دوره راغے ولے دلته ئے هم هغه شان اوشو لکه چه څو کاله کا هو د شاهزاده په راتګ وېلے شوے وو. خلق په کننګهم پارک (موجوده جناح پارک) کښې راغونډ شول او د کمیشن په راتګ ئے د خفګان او د غصے اظهار اوکړو. په دے کښې الله بخش یوسفی د ټولو نه مخکښے وو.

لږ موده پس دا سے یوه پیښه اوشوه چه د آزادئ په تاریخ کښې به په زرو خط لیکلے کیږی، یوه خوا که هغه پیښه د انګریز ظلم نباتی نو بل خوا د پښتنو د آزادئ سره مینه او د هغوی د آزادئ په جنګ کښې په پوره جوش برخه اخستل څرګندوی. په هندوستان کښې د فرنګی خلاف نفرت زیاتیدو. آل انډیا نیشنل کانګرس چه اولے د هند د پاره اندرونی خود مختاری غوښته د دسمبر کال ۱۹۲۹ء د لاهور د اجلاس د پسته خپله پالیسی بدله کړه. اوس هغوئ د مکمل آزادئ نه سیوا خبره نۀ کوله. د کال ۱۹۳۰ء په سر کښې ګاندهی د "ترک موالات" اعلان اوکړو. د هغې په وجه په ټول وطن کښې شور و غوغا جوړه شوه. د ګاندهی د ویمے قدم د مالګے د قانون ماتول وو. د اپریل په دویمه هفته کښې د سرحد پراونشل کانګرس کمیټئ د علی ګل خان په مشرئ کښې د مالګے د قانون د ماتولو فیصله اوکړه د پیښور نه شوه خاوره پیښور ته راوړلے شوه او مالګه جوړیدل شروع شو. نازیک وخت وو چه مالګه تیاره شوه پوهنړئ جوړے شوے او په ټوله پښتونخواه کښې خورے کړے شوے. دا په صوبه سرحد کښې د سول نافرمانئ ابتدا وه. ۱۲ پراونشل کانګریس کمیټئ د باقاعده سول

نافرمانۍ شروع کیده و د پاره د اپریل دیرویشتمه ورځ اوټاکله - یوه کمیټۍ جوړه کړه چه په کښے عبدالغفار خان لال بادشاه، مولانا عبد الرحیم پوپلزئ، خان میر هلالی، ډاکټر سی سی گوش، غلام ربانی سیټهی، علی گل خان، الله بخش برقی، عبد الرحمان ریا، اجیرج رام، صنوبر حسین کاکاجی، روشن لال وغیره شامل وو - حکومت پرے خبر شو او دوئ ئے گرفتار کړل - دوه کسان غلام ربانی سیټهی او الله بخش برقی د شپے اونه نیوے شول په ۲۳ اپریل د سحر نه کالهُ در ا غلو دوئ دواړه ئے د کانگرس په دفتر کښے چه په کښته کو پیښور کښے وو اونیول - دوئ ئے پیاده تانړے ته روان کړل - په لاره ورسره خلق شامیدل او جلوس ترے نه جوړ شو - دوئ د فساد ویرے پولیس والاؤ ته اووئیل چه مونږ پریږدئ په خپله به کابلئ تانړے ته در شو - پولیس دوئ پریښول وله خلق رو رو زیاتیدل بیلئ ورسره ورسره د انقلاب زندهٔ باد چغے هم شروع کړے - څهٔ خلقو په تانړه باندے د کانړو گذار وته هم اوکړل - وله د مشرانو په پوهولو منع شو - خلق واپس کیدو ته نزدے وو چه په دے کښے یوه داسے واقعه پیښه شوه چه حالات ئے دیر زیات خراب کړل - پولیس افسر دویرے ته د پیټی کمشنر ته ټیلی فون کړے وو او هغه څلور آرمډ کاره د دوئ امداد ته ور واستول دړو بے کاده دیو په تیزئ سره په خلقو باندے را اوختو او یو زلے

لاله وسوندهی رام ئے اووهو - د کاه ونه روستو یو گوره په موټر سائیکل سور ماروان وو د عبدالرحمان مانی د تبر په یوگذار گوره په مزکه په وینو لړلے پروت وو - جلوس بے قابو شو - یو کس په کښے لارو ته اور وا چولو - فوجیانو ډزے شروع کړے [13] - یوولس بجے ډزے شروع شوے او تر دریو بجو پورے ډزے اوشوے - په ښار کښے د یو اعلان مطابق چه د لاټی مرد د ستخط لاندے وو مارشل لاء اولگولے شوه - او په کانگرس کمیټئ سره د دوارو ور ضا کارو تنظیمونو پابندی او لگولے شوه [14] د مرگ او د ژوبلے به څهٔ واے - ډیر خلق شهیدان او ژوبل شو - ۷۵ نوموړه د شهیدانو فارغ بخاری خپل کتاب باچا خان کښے په پانړو ۱۱۵ او ۱۱۷ باندے لیکلی دی. تیول نوموړی خلق ئے بندیان کړل چه په کښے عبدالغفار خان ډاکټر محمد افضل گیلانی، ډاکټر سی سی گوش، سردار کاہن سنگھ، ډاکټر جواهر سنگھ، سردار ملاپ سنگھ، ډاکټر جواهر سنگھ بیدی، امیر چند رنگین، عبدالحئ، سید قاسم جان، غازی محمد عثمان، حاجی کرم الهی، صنوبر حسین کاکاجی، اچرج رام، عبدالرحمان ریا - خان میر هلالی، سردار عبدالرب نشتر - ماسټر شیر علی، پیر بخش خان، وزیر محمد بخشی، فقیر چند، مهاشه کرشن وغیره شامل وو [15]

تاریخ په ښکاره وئ کهٔ په دے موقعه د گړوالی فوج ذکر او نشی - دوئ د تمام خلق وا خستل او فرنګ سامراج ئے اونه منلو - دوئ ته حکم ورکړے شو و

چه د ښار د خلقو خلاف د حکومت د حکم تعمیل نه وړلے
هغوئ انکار اوکړو۔ نتیجه دے به مختلفو سزاګانو
کښے اووته چه د لس کالونه واخله تر شلو کالو پورے
بندیز هم پکښے وو۔ د هغه وخت یو نومورے
انقلابی شاعر عبدالمالک فدا استاذ دغه ورځ
داسے یاده کړے ده۔

ه داسے توحے کړے هیچا نه دی د چرګانو وینے
دکه توحے کړی دی انګریزد مظلومانو وینے
څکه لیکلے دے سن تیس اپریل هر چا په وینو
چه په دے ورځ باندے ویر یاوے د خوارانو وینے
قصه خانه قصاب خانه وه په نظر د خلقو
چه بازار کښے بهیدے د انسانانو وینے

د لته په پښتو نخوا باندے د ظلم زور دا
انتها وه ولے باهر د نیاد هیڅ نه نۀ وه خبر۔
او کۀ څوک خبر وو نو تش د انګریز چیف کمشنر
سر ۲ ټس مونګیر د دے ویانه چه ګنے تو له
پښتونخوا باغی شوی ده۔ او قبائل ئکیا دی په
پیښور باندے چپاوُته کوی۔ په دے موقعه
خلافت کمیټۍ دا فیصله اوکړه چه د انګریز د ظلم
دا داستانونه بهر د نیا ته واستوی۔ په دے
موقعه دوه زلمی داسے وو چه هغوئ دے لوے
کار ته غاړه کیښوده۔ یو الله بخش یوسفی وواو
بل میاں جعفر شاه دوئ د هغه ټولو ظلمونو چه
په دے یو څو ورځو کښے په پښتنو شوی وو داستان
راجمع کړو او د یو رپورټ شکلے ورله ورکړو۔ دا

رپورټ دوئ د لاهور د پن پریس نه چاپ کړو[١٧]
د چاپ کولو نه پس بیا دا بمبئ ته واستولے شو
او دا فیصله هم اوشوه چه په څه طریقه د دا رپورټ
انګلستان ته او لیږلے شی او هلته د پارلیمنټ په
ګرو کښے دے تقسیم کړے شی۔ دا وخت ګول
میز کانفرنسونه په لندن کښے کیدونکی وو او
لوے لوے مسلمانان لیډران لکه محمد علی جناح
مولانا محمد علی جوهر، مولانا شوکت علی او
سر صاحبزاده عبدالقیوم خان لندن ته روان وو
په دے موقعه ۱۰۰۰ کاپئ د شعیب قریشی په
ذریعه د نواب آف بهوپال په سامان کښے کیښودلے
شوے او خلقو ته دا تاثر ورکړے شو چه دا
د محمد علی جوهر کتابونه دی کوم چه به د هغهٔ
د کانفرنس په موقعه پکار یږی کتابونه هلته
اورسیدل او په ممبرانو کښے تقسیم کړے شول[١٨]
د هندوستان په واکدارانو یوه زلزله
راغله۔ هغوئ ګوته په خُله حق حیران وو
چه دا څنګه لندن ته اورسیدل۔ هغوئ ډیر زر
خپله غصه په یوسفی میب اوو یسته۔ هغه ئے
بندی کړو او د عمر قید سزائے ورته ورکړه۔ خو
د مولانا محمد علی جوهر په ویناد سزانه بچ شو[١٩]
الله بخش یوسفی د محمد علی جوهر ډیر زیات
قدردانا وو۔ د هغهٔ د زړهٔ ارمان هله پوره شو
کله چه هغه د محمد علی جوهر سیکریټری شو۔
هغه اوس ډیر مشهور سیاسی کارکن په حیثیت

ځان په ټول هندوستان کښې ښکاره کړو - او لږه
موده پس په کال ۱۹۳۱ء کښې په آل انډیا مسلم لیګ کښې
شامل شو - څو کاله کښې هغه د مسلم لیګ ډیرې زیاتې
خدمت اوکړو - قائد اعظم محمد علی جناح چه کله
په کال ۱۹۳۶ء کښې په اول ځل د سرحد دوره کولو
اراده اوکړه نو الله بخش یوسفي ته ئې یو خط
اولیکلو او هغهٔ ته ئې د سرحد د حالاتو مکمل
تفصیل اوغوښتو - د دې نه علاوه ئې ورته دا هم
اووئیل چه هغه دې په سرحد کښې د مسلم لیګ
پارلیمنټري بورډ هم جوړ کړي [20] د دې نه پس
هغه د سرحد مسلم لیګ یو ډیر فعال غړے شو
چه د دغه وخت د لیګ په سرګرمو کښې د هغهٔ نوم
هر چرته لیدلے کیږي دے خاص کر په هغو کسانو
کښې شامل وو چا چه په د تنقید توره چې واره چلوله -
د یوسفي صیب هغه خطوط چه هغهٔ قائد اعظم
ته لیکلي دي اوس هم موجود دي په دغه خطونو
کښې هغهٔ د مسلم لیګ د ابن الوقت لیډرانو ښهٔ
غندنه کړې ده - او ورسره ورسره ئې قائد اعظم
ته د صوبه سرحد مسلم لیګ په باره کښې ښه
ښه مشورې هم ورکړې دي -

د پاکستان جوړیدو نه پس یوسفي صاحب
کراچۍ ته لاړ شو او هم هلته کښې میشته
شو - په کراچۍ کښې هغهٔ د پښتنو خدمت د ټولو
نه اهم کار اوګڼلو - د هغوئ د حقوقو غوښتلو
د پاره ئې "آوازِ پښتون" اخبار جاري کړو ولے

افسوس دے چه د هغهٔ آخري ورځې خوشحاله نهٔ
وې هغهٔ به هر وخت د هغه لویو لویو سیاسي مشرانو
خبرې کولې د کوم سره چه هغهٔ د خپل ژوند ډیر
وخت تیر کړے وو او په مقابله کښې به ئې د خپل ورستي
ژوند قومي مشرانو ته کتل چه د غریب وینې ئې څښلې
ولې هغهٔ خوار هیڅ نهٔ شو کولے نو آخر په مات زړهٔ
په داسې حالت کښې په ۱۳ مارچ کال ۱۹۶۸ء د دې دنیا
نه لاړ شو -

1968
13 March

په حیثیت د انسان خو الله بخش یوسفي مړ
شو ولې په حیثیت د هغې ادارې چه د ملک او قام
خدمت کوي هغه اوس هم ژوندے دے او تل به
ژوندے وي - په دې چه نن هم د الله بخش یوسفي
زامن په کراچۍ کښې د هغهٔ هغه نیمګړے مشن
لګیا دي پوره کوي ولې دوسامُلوکه ئې خپل دغه مشن
ترسره کولو نه نهٔ پرېږدي -

یوسفي صیب ښهٔ ډیر کتابونه لیکلي دي - د
زوئ د وینا مطابق دے هغه د دوؤ اویا (۷۲) کتابونو
مصنف دے - چه په کښې اکثر کتابونه د سرحد
متعلق دي - ځکه خو ورته امیرچند بموال
څوک چه یو ډیر مشهور انقلابي لیکوال وو،
لیکي چه "په سیاسیات سرحد بانسے
لیکل ځکه پکار دي چه راتلونکے
نسل د خپلو مشرانو د قربانو نه
نا خبره پاتے نشي" [21]

د یوسفي مرحوم په کتابونو کښې دا لاندیني کتابونه

پښتو

په خصوصیت سره ډیر اهم او مشهور دي۔

اُردو:- عدالت سے خطاب: مطالبہ تقسیم حقوق اور کانگریس، سیاسیات سرحد کے ارتقائی منازل، تاریخ آزاد پٹھان، بیسویں صدی کا پشاور، تاریخ ریاست سوات - آفریدی پٹھان وغیرہ -

په انګریزی کتابونو کښے

(1) Al Amin (2) life of Moulana Mohammad Ali (3) Meet The Frontier Gandhi (4) Khilafat Movement; (5) pakhtunistan and Durand line; statement of Facts (2 vols).

د دے نه علاوه الله بخش یوسفی د ډیرو اخبارونو او رسالو ایډیټر هم پاتے شوے دے چه په هغے کښے د هفته وار "سرحد" نه علاوه "فرانټیئر ټریبیون" "فلم لیش" "پښتون" "خلافت" "پروګریس" او هلال پاکستان شامل دي۔

د یوسفی صیب اکثر کتابونه لا د مسودو په شکل کښے پراته دي او د هغه وخت په انتظار دي چه چاپ کړے شي او خلقو ته اولولی ۔

## References :


1. Allah Bukhsh Yusufi, edt by Tariq bin Yusufi, Karachi, nd, pp 1—10
2. Rupert Furneaux, Massacre at Amritsar, London, 1933, p 99
3. Allah Bukhsh Yusufi, Meet the Frontier Gandhi, Bambay, nd, pp 22
4. Farigh Bukhari. Bacha Khan (Urdu) Peshawar, nd. pp 48—49
5. Tariq Yusufi, op. cit. p 11
6. Abdul Khaliq Khaleeq, Da Azadi Jang ( Pashto ), Peshawar, 1972, p. 33
7. Farigh Bukhari op cit, pp. 65—66
8. Ibid
9. Mohammad Shafi Sabir, Tarikh-i-Sooba Sarhad, ( Urdu ) Peshawar, 1086, p. 829
10. Farigh Bukhári. op cit. pp 68—69
11. Allah Bukhsh Yusufi, Sarhd Aur Jaddo-Jehad-i-Azadi (Urdu) Lahore, 1968, pp. 273—334
12. Farigh Bukhari, op. cit. p. 109
13. Ibid pp 111—1112
14. Tne Frontier Mail, Peshawar, April 1930 re-issued from Dehra Dun — Dehra Dun
15. Mohammad Sahfi Sabir, op. cit. p. 870
16. Abdul Malik Fida, Dewan (Pashto) Peshawar, 1972, p 120
17. Allah Bukhsh Yusufi, The Frontier Tragedy, Lahore, nd. p. 1
18. Ibid p. 2
19. See The Frontier Tragedy reprinted Karachi, 1986
20. Mohammad Ali Jinnah to Allah Bukhsh Yusufi dated 12 September 1936

    Allah Bukhsh Yusufi Personal Collections, Karachi
21. Amir Chand Bhamwal to Allah Bukhsh Yusufi, dated 1st October, 1962

    Allah Bukhsh Yusufi, Personal Collectious, Karachi


+1936.

REGD. NO. P. 146
MONTH Nov. - Dec. 1987
Jan. - Feb. 1988

# PASHTO

## JOURNAL OF THE PASHTO ACADEMY
## UNIVERSITY OF PESHAWAR

DEALING WITH THE
PASHTO LANGUAGE-LITERATURE-HISTORY
ARTS-CULTURE AND RELEVANT FIELDS

Editor :
MUHAMMAD NAWAZ TAIR
DIRECTOR PASHTO ACADEMY

PASHTO ACADEMY UNIVERSITY OF PESHAWAR
N. W. F. P.

مياشتنۍ

# پښتو

# پاکستان

"ګولډن جوبلي"

# نمبر

جولائي، اګست ۱۹۹۷ء




## پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۳ | نیمګړے تصویر (نظم) | اسرار د طورو | ۲۱۱ |
| ۳۴ | د ازادۍ نه پس په پښتو افسانوي ادب کښې د پاکستاني معاشرې مقام | رحیم شاه رحیم | ۲۱۳ |
| ۳۵ | د پاکستان په ازادۍ کښې د خدائي خدمتګارو رول | محمد اقبال اقبال | ۲۲۳ |
| ۳۶ | د پاکستان حال په خپله ژبه | عارف الله اظهر | ۲۳۶ |
| ۳۷ | نظم | ګل محمد بیتاب | ۲۳۹ |
| ۳۸ | قائد اعظم په صوبه سرحد کښې | سعادت سحر | ۲۴۱ |
| ۳۹ | پیر مانکي شریف محمد امین الحسنات او پاکستان | پروفیسر سید وقار علي شاه | ۲۴۵ |
| ۴۰ | د ازادۍ په جدوجهد کښې د پښتنو لیکوالو برخه | صاحب شاه صابر | ۲۷۱ |
| ۴۱ | پاکستان (نظم) | سلیم مرور | ۲۷۸ |
| ۴۲ | میاں فضل الرحمن د تحریک پاکستان یو سرګرم او متحرک کارکن | میاں عنایت الرحمٰن | ۲۷۹ |
| ۴۳ | د سوات غرونه د ازادۍ بابونه | محمّد پرویش شاهین | ۲۸۴ |
| ۴۴ | زما ګرانه پاکستانه | محمّد مسلم خان تنها | ۲۹۰ |
| ۴۵ | د پاکستان د ازادۍ په باره کښې د پښتو لیکلي شوي کتابونه | سرفراز خان مروت | ۲۹۲ |
| ۴۶ | زما جانان وطنه | سمسور اتمان خیل | ۳۰۸ |
| ۴۷ | ورمبے دور د کال ۱۹۴۷ء نه تر سنه ۱۹۵۸ء پورې | سلطان روم صوفي | ۳۱۰ |
| ۴۸ | د پاکستان تحریک قدم په قدم | وجاهت نګار | ۳۱۶ |
| ۴۹ | زمونږ د صوبې د جوړېدو د ارتقا تاریخي عمل | انور خان دیوانه | ۳۲۰ |

پروفیسر سید وقار علي شاه (کاکاخېل)

# پیر مانکي شریف محمد امین الحسنات او پاکستان

په ۱۴ اګست کال ۱۹۴۷ء د پاکستان په نوم یو نوے اسلامي مملکت د دنیا په نقشه اوبرېښېدو ۔ ددې وطن د حصول دپاره خلقو ډېرې قربانۍ ورکړې دي ۔ په پښتونخواه کښې نورونه علاوه تحریک پاکستان کښې یو بې غرضه ، بې لوثه او مخلص مشر محمد امین الحسنات د پیر مانکي شریف په نوم پېژندے شي هم را وړاندې کېږي ۔ دغه مضمون کښې د پیر مانکي خاندانې پس منظر ، په سیاست کښې د لچسپي د پاکستان د جوړېدو د پاره د هغهٔ خوارۍ او د پاکستان د جوړېدو نه پس د هغهٔ سره د هغه وخت د حکومت د واکدارانو په سلوک به رڼا اچولے کېږي ۔

د دلهٔ زاکو یوه څانګه په ۱۵۹۱ء کښې د چارسدې په پړانګو نومې ځائے کښې میشته شوه ۔ په دې کورنۍ کښې یو غړي محمد یوسف د خپل قابلیت په وجه شهرت اوموندلو ۔ د محمد یوسف په اولاد کښې ځینې کورنۍ د پړانګو نه راووتې چې په کښې یو ټبر په اکوړي (نوښار) کښې آباد شو ۔ په دې ټبر کښې د ضیاء الدین په کور کښې په کال ۱۸۰۷ کښې عبدالوهاب پېدا شو ۔ هم دا عبدالوهاب مخکښې د پیر مانکي په نوم شهرت مومي ۔ په باچایۍ لاره د سکانو د شوکو د لاسه ددې ټبر ګذران ګران شو ۔ دوي د اکوړي نه کډې اوچتې کړې او په بدرښو کښې میشته شول

شیخ عبدالوهاب دیني تعلیم د خپل پلار نه حاصل کړو ۔ څهٔ موده پس د بدرښو نه راووتل او په ډهیرۍ کټې خېل نومې کلي کښې میشته شول ۔ دلته عبدالوهاب د "ډهیرۍ ملا" په نوم شهرت اوموند ۔ ډېر په لږ شمېر کښې ورو ورو خلق راتلل او ددهٔ مریدان کېدل ۔ د اوبو د کمي په وجه په خلقو د کابل سیند چې ورسره نژدې بهېږي

نه اوبهٔ راوړلې - شیخ عبدالوهاب په قادریه سلسله کښې د اخوند عبدالغفور چې په سېدو بابا مشهور وو، مرید وو - یوځل د خپل پیر سره ناست وو چې د اوبو د کمي ذکر راغلو - هغهٔ ورته اووېل چې په ختیکو کښې ځان ته څرته داسې ځائے اوګوره چې اوبهٔ په کښې ډېرې وي - د نوښارنه د سوېل په طرف دیو کلي مانکي ئې واورېدل چې اوبهٔ په کښې ډېرې وي - شیخ سره د خپلو مریدانو او ټبر د ډېرو کټي خېل نه راپورته شول او په مانکي کښې مېشته شول - د شیخ په وجه دا کلے چې اول د مانکي په نوم پېژندے شو اوس خلقو په مانکي شریف اوبللو او د شیخ عبدالوهاب اولاد د پیر مانکي شریف په نوم اوپېژندلے شو -

د شیخ مریدان په خواؤشا علاقو کښې خوارهٔ شول - دوئ به د خپل پیر د وېنا مطابق د "امربالمعروف" او "نهي عن المنکر" تلقین کولو - خلق به ئې د خلاف شریعت د کارونو نه هم منع کول - او ورته به ئې د ږیرې ساتلو نصیحت کولو - شیخ او د هغهٔ مریدان د نشو سخت مخالف وو عن تردې چې نسوار او چیلم ئې هم نهٔ منلو - د وخت د ډېرو نورو علماؤ په شان شیخ هم د انګریزي تعلیم مخالفت کولو - د دې لوه غټه وجه دا هم وه چې د هغه وخت انګریزي تعلیم د عیسائیت د تبلیغ نه ډک وو او استاذان ئې هم اکثر پادریان وُو - شیخ عبدالوهاب په ۲۸-۲۹، اکتوبر ۱۹۰۴ء په حق اورسېدو او هم په مانکي شریف کښې خاورو ته اوسپارلے شو -

د عبدالوهاب نه پس د هغه زوئے عبدالحق په مسند کښېناستو - دا عبدالحق د ثاني صیب په نوم پېژندے شي ثاني صیب ۲۴ کاله د پلار په مسند تېر کړل او په ستمبر ۱۹۲۸ء کښې په حق اورسېدو - هغه هم په مانکي شریف کښې ښخ کړے شو - د ثاني صیب نه پس د هغهٔ زوئے صاحبزاده عبدالرؤف د پلار ځائے سنبال کړو - د شپږو کالونه پس عبدالرؤف هم په کال ۱۹۳۴ء کښې په حق اورسېدو او د دهٔ په ځائے د دهٔ ۱۲ کلن زوئے محمد امین الحسنات (پېدائش یکم فروري ۱۹۲۲ء) په ګدۍ کښېناستو - امین الحسنات (چې مخکښې به د پیر مانکي په نوم یادېدې) دیني تعلیم د هغه وخت دیو نوموړي عالم مولوي عبدالحنان نه حاصل کړو - په وړوکوالي کښې ورباندې غټ بوج راغلو ولې د پلار نیکهٔ ګدۍ ئې په ښهٔ طریقه سنباله

کړه. کله چې په سیاست کښې ورداخل شو نو هلته يې هم خپل نوم روښانه کړو.
مخکښې څو پاڼو کښې به د محمد امین الحسنات د سیاسي ژوند یو جائزه اخستلے کېږي او
دده هغه کوششونه او کړاوونه به په ګوته کېدے شي کوم چې دهٔ په پښتونخواه
کښې د پاکستان د تحریک په سلسله کښې کړي دي.

## په سیاست کښې دلچسپي او د جمعیت الاصفیا قیام

په عملي سیاست کښې د راتلو نه وړاندې هم د امین الحسنات دا خواهش وو چې د قام
او د وطن ښېګړې د پاره د قام مشرانو ته وړاندې راتلل پکار دي. د مانکي د
پیرانو په نظر کښې د باچاخان سیاست د غندنې قابل وو ځکه چې د دوئ په خیال
د خدائي خدمتګارانو د کانګرس سره ملګرتیا د "کفر ملګرتیا" وه. د دوي په خیال
باچاخان او د هغهٔ ملګرو کانګرس ته د پښتنو په دې وطن کښې د خپل ځان مضبوطولو
موقعه په لاس ورکړه. د دوئ په نظر کښې د مسلمانانو دشمنان هندوان وو ر د لته
به د اېې ځایه نهٔ وي کهٔ اولیکم چې د دوي ذهن د هندوستان د نورو صوبو د
ملایانو سره مطابقت خوړو (د چا په خیال چې هندو د فرنګي نه زیات د اسلام
دشمن وو) د پښتونخوا اکثر علماء لکه د خدائي خدمتګارو په دې قائله وو
چې زمونږ دشمن فرنګے دے او په هر حال چې وي د دوئ د غلامۍ نه ځان خلاصول
پکار دي. په دې علماء کښې نومړي پاوندہ ملا، سپد اکبر، سنډاکی مولوي صیب
هډې مولوي صیب، مستانه ملا، عزیرګل مولوي صیب او د ترنګزو حاجي صیب شامل
دي. د دوئ نه علاوه د شلمې پیړۍ تر نیمايي پورې یو بل مجاهد چې نن يې
هم د وزیرستان غرونه د میړانې او توزنې شهادت ورکوي، هغه فقیر ایپي دے.
دې نومړو د فرنګي په ضد مبارزې کړي دي او داسې یو هم مثال نشته چې دوئ
لکه د پنجاب او د سنده د علماؤ د حکومت (فرنګي) نه لوئے لوئے خطابونه او
جاګیرونه اخستي دي. د دوئ په سیاست کښې او د باچاخان په سیاست کښې
هېڅ خاص فرق نهٔ وو. د وطن آزادي او د فرنګي استعمار نه ځان خلاصول د دواړو

مقصد وو - که څهٔ فرق ؤنو داؤ چې او لنو ذکر شوؤ علماؤ دا کار د وسلې په زور کول غوښتل او باچاخان او خدائي خدمتګارانو هم دا څيز په عدم تشدد اخستل غوښتل هم دا يوه غټه وجه ده کهٔ سرے د خدائي خدمتګار تحريک جاج واخلي نو په کښې بې شمېره علماء چې پکښې مولانا غلام رسول، مولوي محمد اسرائيل او عبد الله شاه صاحبزاده شامل دي، په شان نور لوئے لوئے علماء پکښې هم موندلے کيږي - کهٔ هر څو فرنګي او د هغهٔ تالي څټيو ډېر کوشش اوکړو چې په څهٔ طريقه د خدائي خدمتګاران د روس د بالشويکو ملګري ثابت کړي، هغوئ په دې خپل کوششونو کښې ناکامه شول او غټه وجه ئې په خدائي خدمتګار تحريک کښې د دومره لوئے تعداد کښې د علماؤ وو - دا خبره په دې ځائے لنډول غواړم - مقصد مې د دې ليکلونه صرف دا دے چې د مانکي د پيرانو د باچاخان او خدائي خدمتګارانو سياست ته د کړکې په نظر کتل او دا کوشش ئې کولو چې په څهٔ طريقه د باچاخان د دوئ مخالف په يو ځائے راغونډ کړي -

په دې لړ کښې امين الحسنات ډېرې دورې اوکړې تر وزيرستان پورې اورسېدو - هسې خو د جلسو رنګ اسلامي وو ولې اصلي مقصد ئې دا وو چې خپل هم خيال علماء په يو ځائے راغونډ کړي - لا تر دې وخت پورې پيرصيب په عملي سياست کښې د برخې اخستو په حق کښې نهٔ وو - خو ډېر زر د مرکزي هندوستان حالاتو هغه په دې مجبور کړو چې په عملي سياست کښې دې د مسلمانانو د ښکړې د پاره حصه واخلي او سياسي ميدان ته دې راوځي -

امين الحسنات د کانګرس د "هندوستان پرېږدئ" تحريک د وخت نه دا فيصله اوکړه چې اوس هغه ته صرف تر ديني معاملاتو ځان محدوده ول نهٔ دي پکار او په څهٔ طريقه دې سياست ته راوځي هغهٔ ته د کانګرس دا تحريک په خلا کښې د هندو راج قائمول ښکارېدل - هغهٔ دا غوښتل چې په څهٔ طريقه دې د مسلمانانو د ښکړې د پاره کارکونکي سياسي ډلې سره رابطه جوړه کړي - الله تعالی ورته دا موقعه د شملې کانفرنس (۱۹۴۵) په وخت پيدا کړه - د دويم جهاني جنګ په دوران کښې و نت په وخت حکومت برطانيه د هندوستان د ګڼالي د حل

د پاره مختلف تجویزونه او وفدونه رالیږل د کرپس مشن (مارچ ۱۹۴۲ء) نه پس قابل ذکر شمله کانفرنس ۱۹۴۵ء دے. په ۲۵ جون دا کانفرنس شروع شو. د آل انډیا نیشنل کانګرس او آل انډیا مسلم لیګ نه علاوه نورو نمائنده سیاسي ډلو ته هم په کښې بلنه ورکړے شوې وه. ډېر زر د کانګرس او مسلم لیګ اختلافات د وائسرائے د ایګزیکټیو کونسل د مسلمان اراکینو په مسئله راڅرګند شول. د مسلم لیګ مشر قائد اعظم محمد علي جناح دا مطالبه اوکړه چې مسلم لیګ د هند د مسلمانانو واحد نمائنده جماعت دے دې دپاره د کونسل د مسلمان اراکینو نامزدګي به دوي کوي. کانګرس د مسلم لیګ په دې مطالبه دا اعتراض اوکړو چې لیګ د ټولو مسلمانانو نمائندګۍ دعویٰ نۀ شي کولے ځکه چې پنجاب او نورځنې مسلم اکثریت صوبوکښې د دوي حکومت نشته خاص توګه باندې ئې ورته د پښتونخوا مثال ورکړو. هلته د کانګرس وزارت وو او وزیر اعلیٰ ئې ډاکټر خان صاحب وو. هغوي هم دومره سوچه مسلمانان وو څومره چې د هند نور مسلمانان دعویٰ کوي. قائد اعظم په دې اونښتو او نتیجه د کانفرنس په ناکامۍ اووته. جناح صیب به شمله کښې څو ناکام شو ولې د ډېرو تعلیم یافته مسلمانانو زړونه ئې اوګټل. د پښتونخوا په لیکیانو دې ډېر ښۀ اثر اوغورځولو او د چارسدې د یو لیګي وکیل محمد زمان ایډوکیټ د وینا مطابق د صوبې د مسلمانانو سترګې وازې شوې او اوس به دلته لیګ کښې پوره انقلاب راشي. د صوبې ګورنر سرجارج کننګهم هم خپل یو رپورټ کښې وائسرائے هند ته اولیکل چې اوس ډېر تعلیم یافته زلمي دلته د مسلم لیګ او د پاکستان خبرې کوي او د هندوانو نه کرکه ئې ورځ په ورځ زیاتیږي.

دلته کښې لږ ذکر کۀ د پښتونخوا د مسلم لیګ اوشي نو یقیناً چې بې ځایه به نۀ وي. په پښتونخوا کښې موجوده سیاسي بېداري د شلمې پېړۍ د شروع نه پېدا شوې وه. په قامي کارونو کښې د وه هندوانو د پېښور ښار امیرچند بموال او د یار حسین صراف پنډت رام چند خپل ځانونه څرګند کړل. په مسلمانانو کښې هم یو څو تعلیم یافته زلمي په پېښور ښار کښې جمع شول او د قاضي میر احمد خان په بالاخانه کښې په کال ۱۹۱۲ء کښې د مسلم لیګ اغاز اوکړو. په دې مسلمانانو

کښې دوه میے میاں عبدالعزیز، علي عباس بخاري، قاضي عبدالولي، قاضي میراحمد خان
او حکیم محمد آمین وو. میاں عبدالعزیز ددې نوې تولې مشر شو او علي عباس ئې سیکرتري
شو. خو یو څو دوې کوزه په هند کښې د لیگ په کالنۍ جلسو کښې شرکت کولو او بیل
څوا ئې دا ثابته کړه چې د پښتو نخوا سیاست ځان له خپل خصوصیتونه لري. په
هندوستان کښې د مسلم لیګ په سیاسي پروګرام کښې د حکومت وخت سره وفاداري شامله
وه ولې د پښتونخوا دا لیګیان د فرنګیانو د سر تپاکوان وو. د اسلام په نوم شروع کېدونکي
ټولو تحریکونو کښې به دا لیګیان دمخه ځانونه شاملېدل. علي عباس بخاري (چې په
آکسفورډ یونیورسټۍ کښې ئې سبق وئیلے وو) خپلې دا بطې نه صرف د هندوستان سیاسي
مشرانو سره بلکه په انګلستان کښې هم خپلو ملګرو سره لرلې. هغه چې به کله خپله صوبه
کښې د فرنګي ځنې بې انصافي اولیده نو زر به ئې خبر خپلو ملګرو ته انګلستان ته
واستولو. ددۀ د لاسه د صوبې واکداران دومره تنګ شو چې دے ئې لیونے او بللو
او څۀ موده ئې کامپبلپور (نن وخت کیمبلپور او سنے اټک) کښې بندیوان کړو. د پښتونخوا
دا مسلم لیګ فرنګي او نۀ زغملے شو او ډېر زر ئې پرې ګذار اوکړو. صوبائي لیګ ئې
خلاف قانون کړو ځنې لیګیان ئې بندیوان کړۀ ځوک لاړل کوز هندوستان کښې ورک شول
او ډېره موده پس بیا ډاګرګند شول. بخاري او قاضي عبدالولي دواړه او تښتېدل افغانستان
ته او هلته ئې د فرنګي په ضد مبارزه جاري او ساتله ددې ګذار نه پس تر ډېره موده
بیا چا د لیګ نوم په پښتونخوا کښې نۀ شو اخستے. ډېره موده پس چې کله د ۱۹۳۵ دَ
ایکټ لاندې د عام انتخاباتو اعلان اوشو نو د مسلم لیګ صدر محمد علي جناح (چې لا
قائد اعظم شوے نۀ وو) د نورو صوبو په شان په اکتوبر ۱۹۳۶ء کښې پېښور ته هم
دا غلو. ولې د مسلمانانو د کلهم اکثریت په دې صوبه کښې هیڅ ځوک د مسلم لیګ په ټکټ
اودرېدو ته تیار نۀ وو. د کانګرس په وړومبي وزارت (۱۹۳۷ - ۱۹۳۹ء) کښې د کانګرس
وزیر اعلیٰ ډاکټر خان صیب او د هغۀ ملګرو د حکومت واګې په لاس کړې او وړومبے
ګذار ئې په نوابانو جاګیردارانو او د فرنګي په تالي ځټو اوکړو د دوئ د زور د کمولو
د پاره ئې ډېر اقدامات اوکړۀ چې تفصیلات ئې دلته نۀ شي بیانېدے نو دا ځوړے ګله
چې دا وېښ شو د صاحبزاده عبدالقیوم خان د مرګ نه پس ګله چې دوئ ته د کانګرس مقابله

په یو اځې کول ګران وو نو دخپل حقوقو د حفاظت د پاره یې د نوي داړونداې کړے شوي مسلم لیګ ملګرتیا اوکړه او په اسمبلۍ کښې د ننه هم د صاحبزاده عبدالقیوم د پارټۍ مشر سردار اورنګزیب خان یې د مسلم لیګ د پارټۍ د اسمبلۍ مشر کړو.

په داسې حالاتو کښې ددې نوابانو او جاګیردارانو په لوئ تعداد کښې په مسلم لیګ کښې شمولیت ددې پارټۍ نوم دومره بدنام کړو چې د هغه وخت د صوبائي مسلم لیګ د جنرل سیکرټري میاں ضیاء الدین د وینا مطابق د لیګ دمشرانو کار صرف دا وو چې په کرکښې شمېر کښې په خپلو موټرو کښې یو ځائے ته لاړ شي هلته ډوډۍ اوکړي او واپس شي ځکه خو ورته ناقدینو د مسلم لیګ په ځائے " موټر لیګ " هم وئیل د عام سړي په نظر کښې مسلم لیګ صرف د لویو نوابانو او سرمایه دارانو ټولے پاټۍ شو چې د دوي په کښې هیڅ آواز نۀ شو اوریدے - لیګ په کوزهندوستان کښې د هندو په ضد سیاست کولو او دلته "د هندوانو زیاتے" یا "د هندوانو ظلمونه" داسې قسم خبرو پوري به خلقو خاندل - د خدائي خدمتګارو د کامیابۍ لویه غټه وجه دا هم وه چې هغوي نو د فرنګي په ضد سیاست کولو او لیګ دلته ناکام ځکه وو چې هغوي د هندو په ضد سیاست کولو او دا خبره خلقو به هسې په خندا واړوله - هم دا وجه ده چې لیګ که هرڅو د پاکستان په نوم هم سیاست کولو کوشش اوکړو خو اول ناکام شوے وو.

نو . د شملې کانفرنس د ناکامۍ او د هغې په پښتو نخوا د اثراتو خبره مې کوله - اوس دلته تعلیم یافته خلقو د مسلمان د پاره ځان له وطن پاکستان کښې د لچسپي اخستل شروع کړل لکه د نورو ډېرو خلقو امین الحسنات هم د شملې خبرو اترو ته په غور او فکر کتل - هغه د شملې وا قعاتو په دې نتیجه اورسولو چې د هند د مسلمانانو بښېګړه اوس بغیر د پاکستان نه په بل ځائے شي کښې نشته - او دا پاکستان به هم مسلم لیګ ګټي هغه دا فیصله اوکړه چې اوس علماء ته هم د پاکستان او د مسلم لیګ مرسته کول پکار دي ځکه چې هسې نه د فرنګي د غلامۍ نه پس چرته د هندو د بادارۍ لاندې راګیر شو هم دا وخت وو چې امین الحسنات د قائداعظم د سیاست قائله شو او دا یې غوښتل چې په هره طریقه چې وي چې د قائداعظم او مسلم لیګ ملګرتیا اوکړي چې د هند مسلمانان د هندوانو د ظلم نه خلاص شي - او دوي ځان ته خپل وطن د پاکستان په نوم اوګټي -

پیر مانکي صیب دې کار ابتداء هم د خپل کلي مانکي شریف نه اوکړه - د هندوستان هم خیال علماؤته ئې مانکي ته د را تګ بلنه ورکړه چه ګڼ شمیر کښې علماؤ په کښې ګډون اوکړو - په دوي کښې قابل ذکر مولانا شبیر احمد عثماني، مولانا عبد الحامد بدایوني، پیر جماعت علي شاه، پیر صیب آف تونسه شریف، پیر صیب کوټوغه شریف، پیر زکوړي شریف، مولانا بادشاه ګل اکوړي فقیر عبد الواسع (بنون) وغیره شامل دي علماؤ د دې ورځې خپلو کښې په بحث او مباحثو تیرې کړې او بیا په دې متفق شول چې اوس د هندوانو مقابلې د پاره د خپلو کوښښونه راوتل پکار دي - دوي فیصله اوکړه چې د یو منظم تولي په حیث علماؤته په شریکه کار کول پکار دي - د یو جماعت د جوړولو اعلان اوشو چې نوم یې جمعیت الاصفیاء کښېښودے شو - په ۱۴ اکتوبر ۱۹۴۵ء د جمعیت الاصفیاء وړومبے اجلاس په مانکي کښې اوشو - سجاده نشین چوره شریف خپل صدارتي خطبه کښې د پښتونخوا په سیاست یو اوږد بحث اوکړو هغه په خدائي خدمتګارو یو اوږد تنقید اوکړو - د صوبې مسلم لیګیان ئې هم اونه بخښل - هغه د "مذهبي پاکستان" پوره پوره مرسته اوکړه ځکه چې د هغه په خیال کښې پاکستان مذهبي نه وي نو بیا دوي ته په هندوستان او پاکستان کښې هیڅ فرق نه وو په دغه موقعه دوي دا فیصله اوکړه چې علماء به په راتلونکو انتخاباتو کښې د لیګ د امیدوارانو کمک او مرسته کوي خو دوئ به هم د علماؤ سره دا وعده کوي چې دوئ به د شریعت په ضد هیڅ قسم قدم نه پورته کوي هلته موجوده علماؤ په متفقه فیصله امین الحسنات د دې جمعیت صدر کړو - امین الحسنات خپل صدارتي خطبه کښې اوفرمائیل دکه چې نشکاره ده د مسلمانانو د حقوقو حفاظت یو مسلم لیګ په صحیح طور کولے شي - یقیناً چې په راتلونکي انتخاباتو کښې به موږ د لیګ سره پوره پوره مرسته کوؤ لیګیان به هم زموږ سره دا وعده کوي چې د مسلم لیګ سیاست به د اسلامي شریعت نه خلاف نه وي - د لیګ سیاست به په اسلامي طریقه کولے کیږي - مسلم لیګ به بالکل هیڅ داسې قوانین نه پاس کوي چې د اسلام په ضد وي د مسلم لیګ ،، پاکستان به مذهبي پاکستان وي هر کله چې علماء د دې په حصول کښې کامیاب شي نو په پاکستان کښې به قانون د شریعت قانون وي

دا ټول شرطونه امین الحسنات قائد اعظم ته واستول - ورسره ئې ورته دا هم

اولیکل چې موږ د اسلام خدمت کوو نو دا څه د ذاتي لالچ یا خپل غرض د پاره نه کوو
بلکه دا صرف او صرف د هندوستان د مسلمانانو د ښېګړې د پاره کوو - قائد اعظم چې کله
دې نه خبر شو چې د پښتونخوا علماء د لیګ مخالفت ته تیار شوي نو یو اوږد خط یې
د پیر مانکي په نوم اولیکلو - خپل د ۱۸ نومبر ۱۹۴۵ء په دې خط کښې قائد اعظم د
هندوستان مسلمانانو باندې دا غلي "د سخت وخت" د ذکر کولو نه پس په دې بې شانه دیانه
خوشي ښکاره کړه چې په دې اهم وخت کښې د دوئ د لیګ ملاتړ اوکړو - د څني هغه نکاتو
متعلق د کوم ذکر چې پیر صیب په خپل خط کښې کړے وو قائد اعظم اوفرمائیل چې هر کله
چې پاکستان جوړ شي نو د دې د پاره آئین به د مسلم لیګ پارټي نه جوړوي بلکه د پاکستان
خلق به جوړوي - او د پاکستان د خلقو متعلق صرف دومره ووئیل غواړم چې د دوئ ۵۷
فی صده مسلمانان دي - نو د دې د پاره تاسو ته دې دا علم وي چې د اسلام او شریعت
په ضد به هیڅ قسم ته قانون په پاکستان کښې نه جوړیږي - هغه دا خواهش هم څرګند
کړو چې هغه غواړي چې پیر صیب سره په پېښور کښې په ۲۰ نومبر ملاقات اوکړي -
د دې نه پس پیر صیب خپل پوره وخت د پاکستان د حصول د پاره وقف کړو - دلته به دا
وینا بې ځایه نه وي چې د دې نه پس په پښتونخوا کښې د پاکستان د تحریک مشر هم
پیر صیب شو - تر اوسه پورې څو مسلم لیګ د نوابانو او جاګیردارانو بولے بللے کېدو
ولې د پیر صیب د شمولیت نه پس په ورومبي ځل عام سړي هم په لیګ کښې څه
دلچسپي واخسته - پیر صیب په خپلو مریدانو اوګرځېدو او دا یې ورته اووئیل چې
په راتلونکي انتخاباتو کښې د دوئ د لیګ نامزد شوي امیدوارانو ته ووټ ورکړي
ځکه چې د دوئ دا یو یو ووټ به د هندوستان د لسو کروړو مسلمانانو د راتلونکي
قسمت فیصله کوي - تر اوسه پورې څو پیر صیب جمعیت الاصفیاء او مسلم لیګ کښې کمه
کارکولو ولې د دې نه پس هغه خپل ژوند پوره پوره صوبائي مسلم لیګ ته وقف کړو -
او په صوبه کښې د عام سړي د لیګ متعلق جوړ شوي خیالاتو بدلیدو د پاره پوره
کوشش یې اوکړو -

# پیر مانکي شریف او تحریک پاکستان

د مسلم لیګ د هغه خیال خلقو نظر د قائد اعظم د پښتونخوا دورې ته وو د جناح صیب دا د صوبې دویمه دوره وه - د ورومبۍ دورې نه څو هفته څو شمال نهٔ وو تللے. دا ځل ورته د خلقو سترګې ځکه هم وې چې اوس د پیر صیب غونډې بې لوث او مخلص خلق لیګ ته راغلي وو - د کانګرس نه هم څهٔ خلق لیګ ته راغلي وو - د دوی لیګ کښې د شاملیدو غټه وجه د کانګرس سره خفګان وو - د دوئ دا غوښتل چې د صوبائي لیګ نه په صحیح طور سره یو نمائنده جماعت جوړ کړي

قائد اعظم په ۱۹ ر نومبر ۱۹۴۵ء پېښور ته راورسېدو - یو کښې شمېر مسلم لیګیان ورته د استقبال دپاره وتي وو - د لږ آرام نه پس یو میټنګ را اوغوښتے شو چې د نورو زړو لیګیانو نه علاوه په کښې پیر صیب هم شمولیت اوکړو - تولو کښې اهم مسئله د لیګ د ټکټ دپاره د خلقو نامزدګي وه - هرچا دا غوښتل چې د لیګ سرکاري امیدوار دې شي - جناح صیب په دې موقع دا خبره څرګنده کړه چې خلق دې پرېدي او ټکټونه کم د لیګیانو دپاره دا حکم دے چې دوی به ارو مرو د لیګ نامزد شوي سرکاري امیدوارانو مرسته کوي - هم په دې موقعه قائد اعظم دا هم ښکاره کړه چې په ۲۴ ر نومبر چې هغه مردان ته ځي نو دا غواړي چې لږ غونډې مانکي شریف ته هم لاړ شي -

په ۲۴ ر نومبر قائد اعظم د پېښور نه روان شو - د ووټونو ورځې وې او ډېر خلق د لیګ د ټکټ امیدواران وو میاں مشرف شاه او میر اسلم خان خټک خپل خپل خلق راوستي وو او د نوښار نه تر مانکي شریف پورې د لارې دواړه اړخته ئې اودرولي وو - د دوی نه علاوه د پیر صیب مریدان هم په ډېر کښې شمېر کښې د قائد اعظم هرکلي دپاره ولاړ وو - د شنو جنډو په لاس خلقو د الله اکبر او پاکستان زنده باد چغې وهلې - په دې لیدو قائد اعظم، عبدالرب نشتر ته چې ورسره څوا کښې ناست وو مخ ورواړولو او وې وئیل "چې پته نشته چې زما په ژوند به پاکستان جوړ هم شي او که نه تر نهٔ وي نو صبا، پنځه کاله پس، که پنځه نهٔ وي نو لس کاله پس څو یو ورځ به ضرور دا د هندوستان مسلمانان ځان له خپل وطن پاکستان

جوړ وي - اوس کهٔ مرګ راهم شي نو هېڅ فکر مې نشته ځکه چې ما هم دا غوښتهٔ"

قائد اعظم مانکي شريف ته پاڅکم دولس بجې د غرمې اورسېد و دپير صيب په وېنا مياں عبد الکريم سپاسنامه پېش کړه چې پکښې د هند د مسلمانانو د پاره د قائد اعظم د کوششونو ستائنه اوکړے شوه - قائد اعظم په دې موقعه په خپل تقرير کښې اووئيل چې زهٔ ستاسو يعنې د علماؤ ډېره زياته منته کوم چې په دې سخت وخت کښې مو د مسلم ليګ مرسته اوکړه او د ليګي امېد وارانو د کاميابۍ د پاره مو ملا اوتړله - هغه مخکښې زياته کړه چې تاسو زمانه په سپاسنامه کښې دا تپوس اوکړو چې په پاکستان کښې به کوم قانون وي؟ ستاسو د دې تپوس زهٔ ډېر زيات ذړهٔ بدے شوم زهٔ درته دا څرګنده ول غواړم چې د مسلمانانو خدائے يو، رسول[٢] يو او قرآن شريف يو دے هم دا قرآن د مسلمانانو قانون دے کوم چې د نن نه ديارلس سوه کاله اګاهو د حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم په وساطت سره مونږ ته رارسېدلے دے - هم دا قرآن زمونږ قانون دے - هغه مزيد اوفرمائيل چې تاسو په راتلونکي انتخاباتو کښې د ليګ امېد وارانو ته ووټ ورکړئ - تر څو پورې چې د قانون سازۍ تعلق دے نو دا درته بيا بيا په جار وئيل غواړم چې د مسلمانانو يو خدائے دے، رسول ئې يو دے، قرآن ئې يو دے او مذهب ئې يو دے - د قرآن په شکل کښې يو مکمل قانون زمونږ سره موجود دے - د دې په رڼا کښې به ستاسو منتخب امېد واران چې هم مسلمانان به وي نو څنګه به د اسلام په ضد بل قانون جوړ وي مانه پوره يقين دے چې د پاکستان دستور سازه اسمبلي به هېڅ داسې قانون نه پاس کوي چې د اسلام خلاف وي قام د خپل منتخب نمائندګانو نه هر وخت د دې تپوس کولے شي - نو دا کهٔ تاسو زمانه تپوس کوئ چې په پاکستان کښې به کوم قانون وي نو د دې جواب صرف هم دا دے چې په پاکستان کښې به د اسلام په ضد قانون نهٔ وي -

مونږ د هندوانو سره موجوده جنګ هم د اسلام په نوم کوو مونږ د پاکستان د حصول د پاره چې کوم جد وجهد کوؤ دا هم د اسلام د پرمخ تګ د پاره دے - او دا د دې د پاره کوؤ چې مسلمانان د خپل ځان د اسلامي اصولو مطابق د ژوند تېرولو د پاره ځان له بېل ځائے اوسومي - کهٔ دا مقاصد زمونږ په وړاندې نهٔ وے نو يقيناً چې بيا نهٔ ما خپله د دې قسم جد وجهد کولو اونهٔ مې د هندوستان مسلمانان ځان سره بيا د دې جد وجهد د پاره ملګري کول - په آخر کښې جناح صيب موجوده خلقو ته دا

خواست اوکړو چې د لیګ نامزد شوي امیدوارانو ته خپل قیمتي ووټونه ورکړي او خپل مقصد حاصل کړي.

د قائد اعظم د تقریرونه پس پیر صیب د هغه نه ییکلي واخستل چې په پاکستان کښې به اسلامي نظام نافذ کیږي - په دې موقعه د لیګ ځیني نوموړي کسان چې په کښې ثمین جان، عبدالقیوم خان، میاں محمد شاه او فدا محمد خان شامل دي هم موجود وو.

په انتخاباتو کښې په پښتونخوا کښې اصلي مقابله د کانګرس او صوبائي لیګ ترمنځه وه - خدائي خدمتګارو او کانګرس د فیرنګي نه آزادي غوښتې دوې ورسره د سرمایه دارو خلاف هم څه خپل پروګرامونه لرل د مسلم لیګ ټول انتخابي پروګرام د پاکستان نه تاویدو - دیو منظم کانګرس مقابله دیو غیر منظم مسلم لیګ سره وه د مسلم لیګ نوم هسې هم خلقو کښې بدنام وو - پیر صیب د خپل طرف نه ښه ډیرکوشونه اوکړل چې د صوبې خلق د مسلم لیګ د پروګرام نه خبر کړي - هغه دوي ته پې ښانه زیات خواستونه هم اوکړل چې ووټونه لیګي امیدوارانو ته ورکړی - خو ولې څه ټوله پښتونخوا خو د پیر صیب مریدان نه وو د انتخاباتو نتیجه په پښتونخواه د کانګرس په کامیابی اووته - د ږنګوس کسانو په اسمبلۍ کښې کانګرس یو ډیرش او د هغه حلیف جماتونو دوه نوره نشستونه واخستل - مسلم لیګ د خپل طرف نه صرف اوولس کسان د اسمبلۍ ته په استولو کښې کامیاب شو.

په مرکزي هندوستان کښې حالات ډیر په تیزۍ بدلیدل د هندوستان د کشالي د سیاسي حل د پاره بل یو وفد د وزارتي مشن په نوم راغلو - دوئ هندوستان په دریو برخو د ویشلو فیصله اوکړه - پښتونخواه ئې د نورو مسلم اکثریتي صوبو پنجاب او سنده و غیره سره اوتړله - خدائي خدمتګارو د دې مخالفت اوکړو ځکه چې دوئ په هیڅ طور سره د پنجاب "غلامۍ" ته تیار نه وو.

د دې دوران کښې په مرکز کښې د عبوري حکومت د جوړولو اعلان اوشو - او ټوټې واګې د کانګرس په لاس کښې ورکړې شوې - مسلم لیګ د فیرنګي په دې اقدام سخت احتجاج اوکړو او په خپل تاریخ کښې په وړومبي ځل ئې په غیر آئیني طریقې باندې د عمل کولو اعلان اوکړو - ۱۹ اګست ئې یوم احتجاج او نمانځلو او د هندوستان هم خیال

مسلمانانو ته یې دا خواست اوکړو چې دوی دې د خپلو مطالبو د منلو د پاره "راست اقدام" اوکړي - پس مانکې یې په خپله صوبه کښې د یک د تیول پروګرام مشر کړو - دلته خو حالات خراب نهٔ شول ولې کوز په هندوستان کښې په دې ورځ ډېر خونړي فسادات اوشول - په بهار او په بنګال کښې خو ډېر زیات خلق مړهٔ او ټوبل شو - په زرګونو خلق بې کوره شول - صوبائي مسلم لیګ د دې حالاتو نه پوره پوره فائده واخسته - ډېر پښتانهٔ مزدورکار د خپلې خوارۍ مزدورۍ په سلسله کښې په کلکته وغیره کښې میشته وو - په دې فساداتو کښې هغوئ هم مړهٔ او ټوبل شو - د دې تحقیقاتو د پاره یک خپل وفدونه کوزه واستول - هغوئ د هندوانو په مسلمانانو د ظلمونو قیصې دځان سره راوړې - دلته خلقو ته اووئيلے شو چې د هندوانو د ظلم د لاسه ډېر جاتو نه شهیدان شول د قرآن شریف بې حرمتي اوشوه او مسلمانانې ښځې په ډېر کې شمېر کښې بې عزته کړې شوې - د ماشومانو د مرګونو قیصې هم دلته راوړولے شوې - د قرآن شریف سوې پاڼې اوښودلې شوې او ډېره اسمٰعیل خان کښې خو یوه کیکره چې دا وئيلے کېدو چې د یو مسلمان ده هم اوګرځولې شوه - د دې فساداتو د هندوستان په سیاست کښې هم غټ بدلون راوستو او ډېر غټ اثر یې د پښتونخوا په سیاست هم اوغورځېدو - تر پرونه پورې خو خلقو اول خپله پښتو او پښتونولي ګڼله او ورسره یې وروستو بیا د هندوستان د اسلام خبرې کولې ولې د دې خونړي فساداتو د مسلم لیګ هم خیال خلق په دې فکر کولو مجبور کړل چې دوی اول مسلمانان او بیا پښتانهٔ دي دوی په دې پوهٔ شو چې د دې ټولو مسائلو حل بغیر د پاکستان نه بل څهٔ نشته - په صوبه کښې حالات ورځ په ورځ خرابېدل - تر اوسه پورې چې صوبه کښې هم د هندو - مسلم د اتحاد فضا جوړه شوې وه هغه خرابېدل شروع شول - په دې دوران کښې مسلم لیګ ته په عبوري حکومت کښې د شاملېدو بلنه ورکړے شوه کومه چې فوراً قبوله کړے شوه ولې د فساداتو دا هور دومره زر د مړکېدو نهٔ وو -

## د جواهرو لعل نهرو د قبائیلو دوره :

جواهر لعل نهرو د عبوري حکومت یو اهم غړی وو - د هغه په ذمه داری کښې د قبائیلي علاقو انتظام وغیره هم شامل وو د نفرت اودکرکې په دې فضاکښې نهرو قبائیلو ته د تګ اراده اوکړه هغه ته باچا خان بلنه ورکړې وه چې راشه او د قبائیلو حالت په خپله اوګوره او ددې د سمېدو څه طریقه راوباسه د صوبې ګورنر اولف کېرو او پولټیکل ډیپارټمنټ دواړه په دې دوره خوشحاله نۀ وو - ګورنر خو په خپله دهلي ته هم لاړو او وائسرائے ته ئې

ن خانصب

اوویل چې په دې وخت کښې دادوره هم مناسبه نۀ ده او بیا د جواهر لعل ځان سره صرف باچا خان او ډاکټر بوتلل هم مناسب نۀ دي - یکارده چې نهرو دځان سره د لیګ نه هم څۀ کسان بوځي - ولې هغۀ ته دا خبره ګنده کړې شوه - چې د قبائیلو د انتظام مشر ته مونږ ځنګه اووایو - چې ته هلته دوره مۀ کوه - بله دا چې دا هم د هغۀ خوښه ده - چې ځان سره څوک بوځي نهرو ته دا دوره د کانګریس د جمات دغړه یوه دوره ښکارېده - او د هغۀ په خیال قبائیل د کانګرس نه څۀ ډېر خوشحال نۀ وو - په کانګرس کښې دننه مولانا ابوالکلام آزاد هم په دې دوره خوشحاله نۀ وو - خو نهرو اراده کلکه کړې وه - نو هیڅ خبرې اورېدو ته تیار نۀ وو -

صوبائي مسلم لیګ ددې دورې سخته غندنه اوکړه - دوئي خپل پوره وس اوکړو او قبائیلو کښې ئې دا پروپیګنډه اوکړه چې د کانګرس هندو مشر نهرو راروان دے او قبائیل د فرنګي نه پس د هندو غلامان کوي - پیر صیب خپل مرید انو ته لاړو - او ورته ئې اوویل چې په هره طریقه چې وي د نهرو دوره ناکامه کړي -

په شپاړسم اکتوبر نهرو د پېښور په هوائي ډګر کوز شو - مسلم لیګیانو ئې خلاف مظاهره اوکړه - په دې موقعه خدائي خدمتګاران د نهرو پخېر راغلي ته (هرکلي ته) نۀ وو راغلي - د باچاخان نه چې اخبار والاؤ پوښتنه اوکړه - چې تاسو ولې د نهرو هرکلے اونۀ کړو - نو هغۀ ورته په ځواب کښې اوویل چې نهرو په سرکاري حېثیت کښې راغلے دے - او مونږ ګورو چې سرکار ورته دده د حېثیت مطابق ځنګه هرکلے

وائې. د یو مسلم لیګ یو نوموړي مشر د هزارې تقیرا خان د پېره موده پس دا او منله چې که چرې په دې موقعه خدائي خدمتګار د هغه پخپن راغلي نه راغلے وے. او د مسلم لیګ دا حال ئې لیدلے وے. نو دا سې وینې به د پښتنو په مینځ کښې تو ے شوې وې. چې تر ننه به خلقو یادولې. نو دا د هغوئې د سیاسي تدبر او د ډاکټر خان صیب فطري نرم والے وو. چې مسلم لیګیانو ئې خپلې خوښې ته پرېښودې وو. په صبا نصرو د باچا خان او ډاکټر خان صیب سره د وزیرستان په دوره لاړو. دوئې اول لاړل میران شاه ته. هلته جرګې سره خبرې په شرختمې شوې د میران شاه نه دوي لاړل رزمک ته. هلته هم دوئې سره روغې خبرې او نشوې. ځکه چې د حکومت ملګري ملکانان رزمک ته رابللي شو. هلته په رزمک کښې دوئې خبر شول چې ځېنې قامي مشران څو میله لاندې په شکر کوټ کښې راغونډ شوي دي. او د نصرو سره لیدل غواړي. په دوئې کښې اکثریت د شابي خېلو وو. هغوئې باندې د نصرو په حکم بمبارۍ بندې شوې وې. هغوئې د دې دننه کول غوښتل ولې په رزمک کښې دننه د چاؤنړۍ مشرانو فوځیانو ورته او وئیل. چې مونږ د چاونړۍ د دېوال نه بهر د ستا حفاظت نشو کولے. مناسبه به دا وي چې ته هلته لاړ نه شې. او دا سې هغه خلق د نصرو په طمع پاتې شول. د رزمک نه دوئې لاړل وانا ته او بیا ټانک ته. هلته هم د دوئې په راتګ احتجاجي مظاهرې اوشوې د ټانک نه دوئې لاړل جنډولے ته. دا بغېر د پروګرام نه ناڅاپي خبره جوړه شوه. بیټنو ورته د پېر دروند هرکلے اووئیل. او قبائيلي روایاتو مطابق ئې ورته ګډه هم پېش کړو. او نوره مېلمستیا ئې هم ورته اوکړه.

د وزیرستان نه چې راغلل نو بیا لاړل تنډي کوتل ته او مالاکنډ ته. په دې دواړو ځایونو کښې هم د دوئې په راتګ خلقو مظاهرې اوکړې. استقبال ئې په تورو جنډو او کالو ویشتو اوشو. د خپلې دورې په آخري ورځ نصرو ته د سردریاب بلنه ورکړے شوه. دا د ده ذاتي دوره اوګڼلې شوه. او د هر څه انتظام خدائي خدمتګارو پخپل لاس کښې واخستو. د پېښور نه داخلې تر سردریاب کیمپ پورې د سړک په دواړو غاړو نصرو ته د هرکلي د پاره

خدائي خدمتګار ولاړ وو. دا ځل چا جرأت اونه کړشو چې د نعرو په مخالفت کښې يو آواز هم پورته کړي. او دوره په خيريت سره تمامه شوه.

ما پخپله د شمالي او جنوبي وزيرستان نه علاوه هغه ټول ځايونه په خپله اوکتل. چرته چې خلقو نعرو په کانړو ويشتي وو. ما ځينې هغه کسان هم اوليدل. چا چې خپله په دې هرڅه کښې برخه اخستې وه. د دې واقعې نه تقريباً پنځوس کاله پس نن دوئي دا مني چې مونږ دا هرڅه د پوليټکل په وينا کړي وو. ځکه چې هغوي مونږ ته په بار بار ويلي چې اوس که مو خپل فکر اونه کړو. او ځان مو د هندو نه خلاص نه کړو. نو د فرنګي نه پس به يقيناً د هندوانو باردارانو شو. هيڅ څوک په دې ټوله دوره کښې د هغې بمبارۍ ذکر نه کوي. کومه چې فرنګي په دوئي د ډيرو کلونو راسې کوله. او هر څوک په دې دوره کښې د مسلم ليګ او د پاکستان خبرې کوي.

صوبائي مسلم ليګ په دې دوره کښې دومره مشهوره نه وه لکه چې دوئي په تيرو څو کلونو کښې نه وه مونده. مسلم ليګ په دې دوره کښې بلها کتيه دا اوکړه. چې په قبائلو کښې ئې هم ځان منظم کول شروع کړل. او هم په دې دوران کښې جوړې شوې رابطې د پاکستان جوړيدو نه پس هم د کشمير په کشاله کښې دوئي بيا پخپل بکار راوستې.

## د صوبائي مسلم ليګ د کانګرس حکومت خلاف سول نافرماني:

د کال ۱۹۴۷ء د شروع نه صوبائي مسلم ليګ يو بدل شوے تنظيم وو. اوس صوبائي مسلم ليګ هغه پخوانے د خوانانو، بهادرانو او نوابانو مسلم ليګ نه وه. بلکه په کښې د مسلمانانو د بنيګړې دپاره ځينې ذاتي کارکنان بخت جمال خان ارباب عبدالغفور خان او پير مانکي غوندې خلق هم شامل وو. دا د دوئي د ژوند يو ډير غټ مقصد وو. چې په هره طريقه چې وي مسلمانانو دې ځان له خپل وطن پاکستان اوګټي. دوئي نه علاوه ځينې زاړه کانګرسيان لکه عبدالقيوم خان، غلام محمد خان لوند خوړ، عباس خان، ميان عبدالله شاه

او میاں محمد شاه غونډې هم یا په څه ذاتي اختلافاتو او د نکتې په مسئله د کانګرس نه خفه شول - او په مسلم لیګ کښې شامل شول - دوئ هم د کانګرس مقابلې دپاره میدان ته را ووانګل -

لکه چې وړاندې او وېلے شو د هندوستان مسلم کش فسادات د پښتونخوا په سیاست هم اثر او غورځولو - په پښتونخوا کښې د خان صیب آیني وزارت وو - په اسمبلۍ کښې دننه د هغه واضح اکثریت وو - داسې هیڅ قسم نه امکانات په راتلونکي نزدې وخت کښې ډنه ښکارېده چې دا اکثریت به په اقلیت کښې بدل شي - مسلم لیګ که هر څو مره کوششونه اوکړل - ولې په آیني طریقه ئې وزارت ته هیڅ نقصان نه شو رسولے - ددې دپاره دوئ د خان صیب د حکومت د ختمولو دپاره په غیر آیني طریقو غور او فکر شروع کړو - د ژوند د ضرورت بنیادي څیزونه د دوېم جهاني جګړې په نتیجه کښې بې شانه ګران شول - نه صرف ګران بلکه ډېر څیزونه خو بالکل به نه پیدا کېدل د څیزونو دا نشت خو په اصل کښې د مسلم لیګ وزیر اعلیٰ سردار اورنګزېب د وزارت (مئ ۱۹۴۳ء ، مارچ ۱۹۴۵ء) راسې شروع وو - خو خلقو پکښې د کانګرس وزارت بدنام کړو - او داسې خبرې عامې شوې چې " سرده کوم وزارت خبرې کوي د هغې وزارت چې د مړي دپاره به چا کفن هم نه موندو -" ولې ددې هر څه باوجود د صوبائي کانګرس مضبوط وو - او په نزدې مستقبل کښې د ړقېدو هیڅ امکان نه ښکارېدو - د ګرانۍ او د څیزونو د قلت ذمه واري په هندوانو واچولې شوه - د چا اکثریت چې د کانداران وو - او مسلم لیګ عام خلقو ته په ذهن کښې ددې کښېنولو کوشش اوکړو چې ددې هر څه ذمه دار دا هندوان دي -

په دسمبر کال ۱۹۴۶ء کښې د امن و امان صورت حال په صوبه کښې خراب شو - د کالا ډهکے د ننګ هار قبیلې حینې خلق د شپې راغلل او د ټل بازار ئې اولوټلو او بیا ئې هور ورته کړو - په صبا اوګیه بازار کښې هم دا ډرامه اوشوه - اول دکانونه اولوټلې شول او بیا اوسېزلے شو - ددې ذمه واري په ملایانو واچولې شوه -

چاچې د مسلم لیګ د پروپیګنډې په وجه د بهار د خونړي فساداتو قیصې به کولې. په دې لوټ مار کښې ځینې هندوان او سیکان هم اووژلے شو. په داروانو څو هفتو کښې داخلق دخپل مرګ د ویرې د هزارې نه او تښتیدل او ګیس چاپیر علاقو کښې ئې پناه واخسته. هسې هم هزاره په پښتونخواه کښې د مسلم لیګ مرکز وو. دلته خدائي خدمتګارو د صوبے د نورو علاقو په شان زور نهٔ لرلو - د علاقې هندوان او سیکان چې د هزارې نه وتل نو د دوئي په قافلو حملې اوشوې او ډیر په کښې شمیر کښې غیر مسلم چې په کښې اکثریت د ماشومانو او زنانو وو اووژلے شو. د خان صیب حکومت په هزاره کښې دفعه ۱۴۴ اولګوله - جلسې جلوسونه بند کړے شو. او ننډهار قبیلې ته د خلقو په وژلو سزا ورکړې شوه په دوئي باندې د سرکاري املاکو د حملې کولو ، د بې ګناه خلقو وژلو او قانون پخپل لاس کښې د اخستو په وجه پنځهٔ اویا زره روپیه نغدې ، پنځه اویا یوولس وزې ټوپکے او ۳۰ کسان د ضمانت په طور د ورکولو سزا ورکړې شوه. صوبائي مسلم لیګ د حالاتو نه پوره فائده واخسته. د لیګ صوبائي مشرانو د هزارې دوره اوکړه - او خلقو ته ئې اوویل چې جرمانه حکومت ته ورنهٔ کړئ. ځکه چې په بهار کښې خو هیڅ یا د هندوانو نه د مسلمانانو په مړګونو جرمانې وانخستلې. هلته زرګونه مسلمانان مړهٔ کړے شوي دي. او دلته خو صرف یو څو کسه هندوان او سیکان اووژلے شو. او د دوئي په سر دومره جرمانې اولګولې شوې.

د جنورې ۱۹۴۷ء په آغاز کښې هغه پیښه اوشوه. چې صوبائي مسلم لیګ ورته د مودو راهسې په طمع وو. د هزارې یوه سیکه لبنتې نومې (چې په کښېره ئې اولاد هم درلو) په دې لوټ مار کښې یو مسلمان محمد زمان نومې اوتښتوله. وائي چې کومو خلقو چې د دې خاوند اووژلو په هغې کښې دا محمد زمان هم شامل وو. دا سیکه مسلمانه کړې شوه - او زمان ځانته وادهٔ کړه - د دې خبرې په ټوله صوبه کښې شهرت پیدا اوموندلو د صوبې سیکانو او هندوانو دا مطالبه اوکړه چې لبنتې په زور مسلمانه کړې شوې ده. دا دې مونږ ته واپس راکړې شي. دلته مسلمانانو وېل چې نهٔ دا په خپله خوښه مسلمانه شوې ده - او څنګه مونږ یوه مسلمانه ښځه هندوانو او سیکانو ته حواله کړو. (د دې)

خبرې د تحقیقات دپاره دا ښځه پېښور ته واستولې شوه . او هلته وزیراعلی ډاکټر خان صیب پخپل کور کښې دېره کړه - ددې ښځې نه د مسلمانانو دیو وفد او ددې د خپلوانو په مخکښې تپوس اوکړے شو . چې ته د زمان سره اوسېدل غواړې او که خپلوانو ته واپس ځې - ددوئ ټولو په موجودګئ کښې ښځې اووئیل - چې زه د خپل مېړه د قاتلانو سره اوسېدل نه غواړم او خپل مذهب ته او خپلوانو ته واپس تلل غواړم - ښځه سیکانو ته حواله کړې شوه - مسلم لیګیانو دا پروپېګنډه اوکړه - چې یوه مسلمانه ښځه ئې په زور بیا هندوانو سیکانو ته حواله کړه - او ډاکټر خان صیب په مذهبي معاملو کښې مداخلت اوکړلو -

د فرورۍ په آغاز کښې صوبائي لیګ یو جنګي کونسل (وار کونسل) جوړ کړو - او پیر صیب ئې د هغې مشر کړو - صوبائي تنظیم ته دا اووئیلے شو - چې ځانونه دې راتلونکي حالاتو دپاره پوره پوره سنبال کړې . په ۱۸ فرورۍ باقاعده د سول نافرمانۍ آغاز د مردان نه اوشو - په پېښور کښې هم حالات خراب شول . نورو لویو ښاریو کښې هم د وزارت خلاف جلسې شروع شوې . دې جلسو کښې به دا مطالبه د حکومت نه په بار بار کېدې شوه - چې د هزارې نه فوځونه واپس کړئ - جرمانې معاف کړئ - او هغه ښځه دې مسلمانانو ته واپس ورکړې شي . ددې سره سره د خان صیب د استعفٰی مطالبه هم شروع شوه . د دې سول نافرمانۍ زور په ښاریو کښې وو . او کلو کښې ئې ځکه هم څه اثر نه لرلو چې په کلو کښې د خدائي خدمتګارو جرړې مضبوطې وې د مسلم لیګ نوموړې مشران قیوم ، ارباب غفور ، بخت جمال ، فدا محمد خان ، یوسف خټک ، ابراهیم خان او ارباب نور محمد خان وغیره بندیوان کړے شو . په دې ټول وخت کښې پیر صیب آزاد ګرځېدو . ځکه چې حکومت ورته لاس نه اچولو . پیر صیب د خپلو مریدانو دورې اوکړې . او هغوئ ته ئې په سول نافرمانۍ کښې د پوره پوره برخه اخستو هدایت اوکړلو . پیر صیب په قبائلو هم اوګرځېدو - او تر وزیرستان او ټانک پورې خپل مریدان ئې په سول نافرمانۍ کښې حصه اخستو دپاره تیار کړل . هغه فقیر ایپي ته هم خواست اوکړو چې د کانګرس خلاف ددوئ ملګرتیا اوکړي . خو فقیر ایپي ټول عمر د فرنګي په ضد مبارزه کړې وه - او خدائي خدمتګارو

هم د فرنګي په ضد مبارزه کوله نو هغه په هیڅ صورت د کانګرس په ضد راوتو ته تیار نه وو.

هم په دې ورځو کښې په پنجاب کښې هم داسې یو تحریک د خضر حیات خان ټوانه د حکومت خلاف روان وو. په دویم مارچ ۱۹۴۷ء د خضر حکومت د مسلم لیګ په دباؤ کښې راغلو. او حکومت استعفیٰ ورکړه. اوس د مسلم لیګ ټول زور په پښتونخواه شو. ځکه چې د مسلم لیګ په پاکستان کښې صرف یو دا صوبه د مسلم لیګ اثر نه بهر پاتې وه. او د دغې یوه غټه وجه د خدائي خدمتګارو مضبوطوالے وو نو اوس د لیګ پوره پوره زور په پښتونخوا شو. په دې ورځو کښې د میجر (ریټائرډ) خورشید انور نوم ډیر خور شو. دۀ به ځان ته د مسلم لیګ د نیشنل ګارډز سالار وئیلو.

په مرکزي حکومت کښې هم ورځ په ورځ نوې تبدیلۍ راتلې. په ۲۲ مارچ لارډ ماونټ بیټن د هندوستان د نوي وائسرائے په حیث دهلي ته راورسید. هغهٔ ته په ټول هند کښې، پښتونخواه یو داسې صوبه ښکاره شوه. چرته چې کانګرس او لیګ پخپلو کښې په ډغره وو. هغه دا اراده اوکړه چې د حالاتو جائزې اخستو د پاره هلته د وائسرائے خپله تګ ضروري دے. ۲۸، ۲۹ اپریل د دې مقصد د پاره اوټاکلے شو. د وائسرائے د دورې نه وړاندې د لیګ هائي کمان نواب صدیق علیخان سالار اعلیٰ مسلم لیګ نیشنل ګارډز، عبدالرب نشتر وزیر مواصلات عبوري حکومت هند او ملک فیروزخان نون پښتونخواه ته را واستول چې دوئي دې خپله کوشش اوکړي. او په کمې شمیر کښې دې خلق پېښور ته راغونډ کړي. چې د وائسرائے دا یقین پوخ شي. چې اوس دا صوبه صرف د کانګرس نه ده. بلکه د مسلم لیګ هم ورسره شریکه ده. او د صوبې مسلمانان پاکستان غواړي. په دې موقع پیر . . . . د هغهٔ ځینې ملګري په عارضي طور سره د بند نه خلاص کړے شو. د وائسرائے خپل تفصیلي ملاقات کښې دوئي اووئیل. چې د صوبې خلق اوس پاکستان غواړي. دوئي د کانګرس وزارت او د ډاکټر خان صیب د لرې کولو هم مطالبه اوکړه. د مسلم لیګ نه یو وفد دهلي ته قائد اعظم سره د ملاقات د پاره واستولے شو. دوئي لارډ او جناح صیب ته د ټولو واقعاتو نه خبر کړو.

ماونټ بېټن د هند د کشالې حل دپاره خپله د ۳ د جون منصوبه پېش کړه - د دې منصوبې مطابق د هندوېش به کېږي . او په پښتونخواه کښې به د دې خبرې معلومولو دپاره چې د صوبې خلق پاکستان غواړي او که هندوستان سره شاملېدل غواړي به استصواب رائې کېږي . نهرو او کانګرس فوراً د ماؤنټ بېټن خبره اومنله . په مرکز کښې د خدائي خدمتګارو د قسمت فېصلې کېدې او دوئي ترې ناخبره وو - نه د هغوئي نه چا د څه شي تپوس کولو ضرورت محسوسولو ځکه چې اوس د کانګرس مشرانو ته د پښتونخواه هېڅ ضرورت نه وو - د لیګ سره په عبوري حکومت کښې د ګډه کار کولو په نتیجه کښې د کانګرس دا مشران په دې نتیجه رسېدلي وو - چې په هره طریقه چې وي مسلم لیګ د ځان نه بېلول پکار دي . دوئي ته په دې کښې اوس عیب نه ښکارېدو - چې پاکستان دې جوړ شي ولې چې نهرو او پټېل په دې پاتې هندوستان مکمل د هر چا اثر نه آزاد حکومت کول غوښتل - د خدائي خدمتګارو د مشرانو نه هېڅ چا تپوس هم اونه کړو او نه ئې په دې سخت وخت کښې چا ملګرتیا اوکړه - باچا خان په دې وخت کښې د ګاندهي سره د احمد آباد د فساد زپلي علاقو دورې کولې . او هېڅ چا د هغه نه هم څه تپوس پوښتنه اونه کړه انګرس د آزادۍ د جنګ خپل دا ملګري په مېنځ لاره کښې " لېوانو " ته اوغورځول - خدائي خدمتګارو دا فېصله اوکړه چې د دې اعلان شوي ریفرنډم کښې حصه وا نخلي - ځکه چې د هندوستان د تقسیم اصولي ف لې نه پس دوئي نه غوښتل - چې د هندوستان سره دې ملګري وي . ځکه چې په مېنځ کښې به د دوئي مخالف پنجاب پروت وي - دا ئې جغرافیائي طور سره مناسب نه ګڼل - مسلم لیګیانو دوئي د هندوانو په ملګرتیا ډېر زیات بدنام کړي وو . او په نوي پاکستان کښې ئې هېڅ کله د خپل ځان سره بېل نه ګڼل - د دې نه علاوه خدائي خدمتګار په دې هم زړه بدي وو - چې نورو صوبو کښې خو د منتخب شوي اداکېن دا حق لري چې دوئي دې فېصله اوکړي - چې د پاکستان سره شاملېږي او که د هندوستان سره - نو بیا دا د مېږي مور سلوک دې ولې صرف د پښتونخواه د خلقو سره کېږي - بله دا چې

یو کال آګاهو څو د صوبې خلقو د پاکستان په باره کښې خپله رائې څرګندره کړې ده - او د پنځو سو کسانو په اسمبلۍ کښې صرف ۱۷ کسان د نوي پاکستان خوښتونکي وو - نو ولې یو کال پس دې اوس دا تپوس بیا کیږي - دوئي دا غوښتنه اوکړه چې هر کله ریفرنډم کوئې نو د پاکستان یا د پښتونستان په نوم ئې اوکړئې - حکومت د دوئي مطالبې ته په هیڅ صورت غاړه نه ‌ږدوده نو خدائي خدمتګارو د ریفرنډم نه بائیکاټ اوکړو - د مسلم لیګ د طرف نه د دې ریفرنډم د تیارئ دپاره یوه کمیټي جوړه شوه - د لیګ هائي کمان خپل نمائندګان آئي آئي چندریګر، غضنفر علي خان او سید واجد علي او تا کل او د صوبې نه ئې یو اځې پیر صیب واخستو.

پیر مانکي د قائد اعظم د وینا مطابق د صوبې تفصیلي دوره اوکړه - هغهٔ هر ځائے کښې دا ذکر کول ضروري اوګڼل چې که چرې تاسو په ریفرنډم کښې د پاکستان حمایت اونهٔ کړئ نو د فرنګي د غلامۍ نه به خو خلاص شئ خو د هندوانو په غلامۍ کښې به ورننوځئ - د خدائي خدمتګارو د بائیکاټ نه باوجود ریفرنډم اوشو - او نتیجه ئې د پاکستان د ګټې په شکل کښې اووته. دا سې د پیر صیب او د ملګرو هغه کړاوونه ئې په ځائے شو - کوم چې هغوئي د څو کالو راسې پدې لړ کښې کول - او میوه ورته خدائے پاک د پاکستان په شکل کښې ورکړه -

په ۱۴، اګست ۱۹۴۷ء پاکستان جوړ شو - د پاکستان جوړیدو سره د کشمیر کشاله هم شروع شوه - پیر صیب په کښې د خپل مریدانو سره پوره پوره شمولیت اوکړو - د کشمیر د مسلمانانو د ښیګړې دپاره ئې مالي او ځاني دواړه قربانئ ورکړې - د پیر صیب ورځ په ورځ زیاتیدونکي مشهورتیا په مسلم لیګ کښې د ننه ډیر مفاد پرست خلق د هغهٔ دښمنان کړل - آخر حالات چې ډیر خراب شو نو پیر صیب په دې مجبور ره کړے شو - چې ... سلم لیګ د دې پریږدي - هغه مسلم لیګ د چا دپاره چې محمد امین الحسنات خپل ژوند وقف کړے ده - هغه پریښودو ته مجبور کړے شو - پیر صیب خپل نور هم خیال خلق راغونډ

کړل - او د عوامي مسلم لیګ په نامه ئې ځان ته یو بیل جماعت جوړ کړو. دا راتلونکي ځو کاله د پیر صیب په سیاسي ژوند کښې ډېر سخت وو. په جون ۱۹۴۹ء کښې په بنګال کښې حسین شهید سهروردي چې هم داسې حالاتو سره مخامخ وو. ځان له د مشرقي پاکستان عوامي مسلم لیګ په نوم خپل ځان له جدا یو سیاسي ډله جوړه کړه. د مغربي پاکستان نه ورسره پیر صیب او نواب افتخار آف ممدوټ ملګري شول. دوي یو نوے جماعت په شریکه جوړ کړو. او نوم ئې وربانده د جناح عوامي لیګ کېښودو.

## وفات

د پاکستان د تحریک په وخت پیر صیب د خلقو سره ډېرې وعدې کړې وې. اګر چې کله چې نوے ملک جوړ شو. نو په دې کښې به اسلامي او شرعي قانون وي. هسې خو د پیر صیب دا خیال وو. چې د پاکستان د جوړېدو نه پس به خپل روحانیت طرف ته توجه ورکوي. او سیاست به پرېږدي. ولې خلقو په دې مجبوره لو چې اوس هغه خپلې وعدې او لوظونه خو سرته اورسوه. کنه - ددې دپاره پیر سیب دا کوشش اوکړو. چې په هره طریقه چې وي. د مسلم لیګ مشرانو ته هغه لوظونه وریاد کړي. او خلقو سره دې شوې وعدې پوره کړي. ولې د حکومت والو چې لیګیانو ترلاسه کړې نو بیا هغوئې هر څۀ هېر کړل. د حکومت په واکدارانو اوس داخبرې چرته ښې لګېدې. ډېر زر د پیر صیب غونډې مخلص کارکنان په مخه کړے شو. پیر صیب چې کله پوهه شو چې ددۀ ګنډران اوس ددې خلقو سره نۀ کېږي نو په پاکستان کښې د نه د جمهوریت دپاره ئې ټک ودو شروع کړل. نتیجه ئې دا اووته چې دے هم لکه د نورو ډېرو داسې کسانو د ملک په "دښمنانو" کښې اوشمېرلے شو. پیر صیب چې په پاکستان کښې د جمهوریت ختمولو دا کوششونه اولیدل نو په دې کښې ئې مصلحت اوګڼلو چې ځان د سیاست نه یو خوا ته کړي. ورو ورو ئې خپل سیاسي ژوند پرېښودولو. او په کال ۱۹۵۵ء خو ئې باقاعده د سیاست پرېښودو اعلان اوکړو. د محمد امین الحسنات ورو ستے ژوند د باچا خان په ملګرتیا کښې تېر شو. هم هغه خدائي خدمتګار چې کوم یو وخت کښې دوئي "کافر" کړي وو. اوس د پیر صیب په ملاتړ ولاړ وو. پیر صیب آخري ورځو کښې خپل ذاتي کاروبار کولو کښې تېر کړو. په ۵ جنوري کال ۱۹۶۰ء کښې د خپل یو ذاتي کار په سلسله کښې میانوالي ته

روان وو۔ چې د فتح جنګ سره نږدې کښې ئې موټر ته حادثه ورپېښه شوه۔ په دې ایکسیډنټ کښې پیر صیب سخت ژوبل شو۔ او فوراً ئې د راولپنډۍ فوجي هسپتال (COMBINED MILITARY HOSPITAL) یعنې سي ایم ایچ ته اورسولو لیکن د ژوند ورځې شپې ئې پوره شوې وې۔ او په ۲۸ جنورۍ کال ۱۹۶۰ء د تحریک پاکستان دا بې لوث بې غرض او مخلص کارکن په حق اورسېدو۔ بله ورځ یعنې په ۲۹ جنورۍ خپل کلي مانکي شریف کښې خاورو ته اوسپارلے شو۔ لحد ته باچاخان په خپله کوز کړو۔

د پیر صیب په مړینه د پښتو نوموړي شاعر فضل حق شیدا چې د پیر صیب ذاتي ملګرے هم وو۔ او خپله هم هغه وخت ناروغه لیډي ریډنګ هسپتال کښې پروت وو۔ دا لاندینې شعرونه اوویل۔

ے تندر اووهلو باغ کښې لویه ژاله
جوړې غټې حادثې ته ده تیاره
سره غوټۍ مې لا پوره ګل شوې نه وه
پوره ځمځ درنې چپې د خاورو خواله
زه خو هم مرګونے پروت ووم عزرائیل ته
د هغه په ځانګړې راغلے به وي ماله

# حوالہ جات

دديٍ مقالې په تيارۍ کښې د لاندينو موادو نه مدد اخستے شوے دے۔


(۱) سید وقار علي شاه۔
پیر صاحب مانکی شریف سید امین الحسنات اور انکی سیاسی جد وجهد (اردو)
(اسلام آباد ، ۱۹۹۰ء)

(۲) Sayed Wiqar Ali Shah,
Muslim League In N.w.f.p. (Karchi 1992)

(۳) Abdul Ghaffar Khan,
My Life And Struggle (Delli Ind).

(۴) Hector Bolitho,
Jinnah: The Creator Of Pakistan (London, 1954).

(۵) Richard Symouds,
The Making Of Pàkistan (Karachi,1976).

(۶) Peter Hardy,
The Muslims Of British India (Karachi 1973).

(۷) N. Mansergh, E.w.r Lumby & P. Moon (Ed).
The Transfer Of Power (London, 1970 - 1983).

(۸) Abul Kalam Azad,
India Wins Freedom (Bombay, 1964).

(۹) Erland Janson,
India, Pakistan Or Pakhitunistan ?

(۱۰) عبدالحلیم اثر افغاني ،
روحاني رابطه او روحاني ترون
(مالاکنډ - ت ن) .

(۱۱) بهادر شاه ظفر،

پښتانه د تاریخ په رڼا کښې

(پېښور - ت ن)

(۱۲) فضل حق شیدا

اسوېلي

(پېښور - ت ن)

(۱۳) سردار عبدالرب نشتر

آزادی کی کهانی میری زبانی (اردو)

(کراچی - ت ن)

(۱۴) الله بخش یوسفی

سرحد اور جدوجهد آزادی (اردو)

(کراچی - ۱۹۸۹ء)

(۱۵) فارغ بخاري .

باچاخان (اردو)

(پشاور، ۱۹۵۷ء)

(۱۶) صفدر محمود

پاکستان مسلم لیگ کا دور حکومت

(لاهور، ۱۹۷۳ء)

(۱۷) پیر مانکي شریف ذاتي ذخیره،

مانکي شریف

(۱۸) سید شمس الحسن ذاتي ذخیره، کراچي

(۱۹) مولانا مددالله ذاتي ذخیره، مردان

(۲۰) دغه وخت ځیني ورځپاڼې چې په کښې "DAWN"

(Stockholm, 1981)."The Pakistan Times" "Khyber Mail"

شامل دي.

Reg: No. P-146

# PASHTO

MONTHLY JOURNAL OF THE PASHTO ACADEMY UNIVERSITY OF PESHAWAR
DEALING WITH THE PASHTO LANGUAGE-LITERATURE-HISTORY-
ARTS-CULTURE & RELEVANT FIELDS

EDITOR: DR. RAJ WALI SHAH KHATTAK

July, August. 1997

PASHTO ACADEMY UNIVERSITY OF PESHAWAR, N.W.F.P.